NATO
OTAN



# د افغانستان ریپوټ ۲۰۰۹

# د مطالبو فهرست

د عامه ديپلوماسی په برخه کي د ناټو د مرستیال سرمنشي جان -فرانسوا بيرو
او د ناټو د وياند جيمز اپاتوري سريزه........................................................................................ 4
لنډيز............. ............................................................................................................................ 5
امنيت ........................................................................................................................................ 6
حکومت...................................................................................................................................18
بيا رغاونه او پرمختيا......................................................................................................... 31

# سریزه

د ناټو په ګډون نړیواله ټولنه له افغان حکومت سره مرسته کوي چې امنیت ډېر کړي ، اداره ښه کړي او بیا رغاونه او پرمختیا پیل کړي. پرمختګ په دغو دری وارو برخو کې ډېر اړین دی چې افغانستان وشي کولای د یوه خوندي او باثباته هېواد په توګه چې نه ځان او نه هم نړیوالي ټولني ته کوم ګواښ وړپېښ کړي راپورته شي.

دا د افغانستان په اړه دویم کلنی ریپوټ دی چې د ناټو د عامه دیپلوماسی څانګي له خوا چمتو شوی دی. په دغه ریپوټ کي دا هڅه نه ده شوې چې ټول هغه فعالیتونه نړیوالو لوبغاړي، انفرادي هېوادنه او افغان حکومت یې تر سره کوي هر یو یاد شي. خو د هغو کارونو چې ناټو-آیساف په مخامخ توګه یا د ملاتړي په توګه پکي ښکېل ده په درېوو اصلی برخو کې د پرمختګ یو عمومي انځور وړاندې کوي: دغه درې برخې امنیت، اداره، او پرمختیا ده. ریپوټ یوزاې دا نه څرګندوي چې ناټو- آیساف څه کړي دي، بلکي دا هڅه هم پکې شوې ده چې لوستونکو ته یو پراخ او متوازن انځور وړاندې کړي، هم د پرمختګ په اړه او هم د هغو برخو په اړه چې نورو هلو ځلو پکي اړتیا شته ده.

کومه نتیجه چې له دغه رپیوټ څخه اخیستلای شوو ساده ده: په افغانستان کې شته ننګوني لویې دي، خو نړیوال اراده او له افغان ولس سره د مرستې نړیوالي هڅې هم چې پر دغو ننګونو لاسبري شي همدومره لویې دي. د افغانانو لپاره د یوې ښې راتلونکې د خوندي کولو لپاره یو پیاوړی بنسټ د جوړېدو په حال کې دی - که څه هم تر هغه څه ډېر ورو دی چې موږ یې غواړو، خو په ټینګه پرمخ ځي. د ولسمشری سرنی ټاکنې چې د طالبانو له ماتې را وروسته دویمې دا ډول ټاکنې دي ، هم په دې کې راځي.

**جین-فرانسوا بیرو**
د عامه دیپلوماسی په څانګه

**جیمز اپاتوری**
د ناټو ویاند

# لنډيز

په ۲۰۰۸ کال کې د ناټو په مشرۍ له امنيت سره د مرستې نړيوال ځواک آيساف (ISAF) چې ملګرو ملتو دنده ورسپارلې، له نوي جوړېدونکو افغان ملي امنيتي ځواکونو سره په ټول هېواد کې د امنيت په رامنځته کولو کې خپلې مرستې ته دوام ورکړ. په ۲۰۰۸ کال کې دامنيت عمومي انځور په ټولو ځايو کې يو ډول نه و. د هېواد د جنوب، جنوب ختيځ او جنوب لويديځ په ځينو برخو کې تاوتريخوالی په چټکۍ سره ډېر شو چې له امله يې د ۲۰۰۷ کال په پرتله د مرګ ژوبلې په شمېر هم د پام وړ ډېروالی راغی. خو د هېواد د شمال، مرکز او لويديځ پراخې سيمې په پرتليزه توګه با ثباته وې. افغان ملي امنيتي ځواکونو قوت او وړتيا ډېره شوه او افغان ځواکونو د لومړي ځل لپاره د کابل په سيمه کې د امنيت مسوليت پر غاړه واخيست. د آيساف ځواکونو په شمېر کې هم د پام وړ ډېروالی رامنځته شو او دا ډېروالی به په ۲۰۰۹ کال کې هم روان وي. د افغانستان د حکومت او پاکستان کې د نوي ټاکل شوي حکومت تر منځ د اړيکو له ښه کېدو سره جوخت د دواړو هېوادو تر منځ د پولو په اوږدو کې پوځي همغږي هم ښه شوه چې په نتيجه کې يې د کال په وروستيو کې د پولې له پورې غاړې په افغانستان کې له بغاوت سره مرسته کمه شوه.

د افغان حکومت وړتيا په ملي، ولايتي او د ولسواليو په کچه لا هم محدوده ده او د فساد شته والي پرې ناوړه اغيز کړی دی. رواني نا امنۍ ، جرمونو او په ځينو برخو کې د نشه يي توکو د کارباو اغېز د ښې اداري د رامنځته کولو هڅې له لا ډېرو خنډونو سره مخامخ کوي. له دغو ننګونو سره سره ، حکومت ټول هېواد ته د خپل اغيز د ورغزولو او ټينګولو په برخه کې پرمختګ کړی دی. د نړيوالو بسپنه ورکوونکو له خوا تمويلېدونکي پروګرامونه د دولتي بنسټونو چې ملکي خدمات، په ملي او سيمه ييزه کچه اصلاحات، د هېواد د قضايي نظام د نشه يي توکو ضد وړتياوو د پياوړتيا هراړخيزې هڅې هم پکې راځي، له اصلاح او سموالي سره مرسته کوي. په سيمه ييزه کچه ، د حکومت نوښتونه پر مخ روان دي چې پکې د يادولو وړ د مرکز حکومت او سيمه سييز چارواکو تر منځ د اړيکو د ښه کولو لپاره د سيمه ييزه ارګانونو د خپلواکې اداري هڅې دي.

افغانستان اوس هم د نړۍ يو له تر ټولو ډېر بې وزلی هېواد دی خو له دغې ټېټې کچې څخه پرله پسې پرمختګ روان دی. ناخالصه کورني توليدات په چټکۍ سره مخ په لوړېدو دي ( په ۲۰۰۸ کال کې ۷.۵ ٪ ) او د افغانستان له ګاونډيو سره په سوداګرۍ کې د پام وړ ډېروالی راغلی دی. د افغانستان د بيا پرمختيا لپاره نړيوال ملاتړ زورواخيست او د ۲۰۰۸ کال د جون په مياشت کې په پاريس کې يو نړيوال کنفرانس جوړ شو. په دغه کنفرانس کې څه د پاسه ۸۰ بسپنه ورکونکو د ۲۱ ملياردو امريکايي ډالرو ژمنه وکړه. سربېره پر دې ، بسپنه ورکوونکو له هغو لومړيتوبونو سره ځانونه همغاړي کړل چې د افغانستان د حکومت له خوا د افغانستان د ملی پرمختيا په ستراتيژۍ کې، چې د ۲۰۰۸ کال په جون کې په رسمي توګه پيل شوه، ټاکل شوي دي. دا د خپلې راتلونکې د رهبرۍ لپاره د افغانستان ډېرېدونکې وړتيا څرګندوي.

افغانستان په ۲۰۰۹ کال کې د دموکراسۍ له مهم پړاو سره مخامخ دی، د اګست په مياشت کې د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو ټاکنې، چې د امنيت، اداري او پرمختيا په برخو کې د شته ننګونو پر شاځمکه تر سره کېږي د ناټو په مشرۍ آيساف په ګډون نړيواله ټوله به په دغه له ننګونو ډک کال کې د افغانستان له حکومت او خلکو سره خپل ملاتړ، د نورو لارو ترڅنګ د يوه ښه همغږي هراړخيز چلند له لارې نورهم ډېر کړي .

# امنیت


اغیزمن اداره او اقتصادي او ټولنیز پرمختګ وخت او فضا ته اړتیا لري چې ریښه ونیسي. د همدغې موخې لپاره په افغانستان کې د ناټو-ایساف لومړنی دنده له افغان چارواکو سره خلکو ته د سولې او امنیت په راوستلو کې مرسته ده.

په ۲۰۰۸ کال کې د امنیت انځور یو ډول نه و. د هېواد د جنوب، جنوب ختیځ او جنوب لویدیځ په ځینو برخو کې اورپکو او جنایتکارانو د حکومت د واکمنۍ د پراختیا د مخنیوي لپاره خپلو هلو ځلو ته زور ورکړ چې ورسره تاوتریخوالی په چټکۍ سره ډېر شو . په نتیجه کې د ۲۰۰۷ کال په پرتله د ولسي وګړو او هم د امنیتي ځواکونو او دغه راز پخپله د اورپکو په مرګ ژوبله کې د پام وړ ډېروالی راغی. د افغان ولسي وګړو او نړیوالې ټولنې پر ضد هغو بریدونو چې په کور جوړ شوي چاودېدونکي توکي پکې کارول کېږي، تر ټولو ډېره مرګ ژوبله پېښه کړه، په داسې حال کې چې اورپکو په ډېرېدونکې توګه د افغان ملي پولیسو لرې پراته او زیان منونکي تاسیسات په نښه کړل چې له امله یې د پولیسو په مرګ کې د پام وړ ډېرالی راغی. سربېره پردې، په پاکستان کې بې ثباتي یاغیانو ته دا فرصت ورکړچې هلته خوندي ځایونه وکاروي او ورڅخه د پولې راپورې په افغانستان کې بریدونه ترسره کړي.

خو په تاوتریخوالي کې دا ډېروالی تر ډېره په هماغو سیمې کې متمرکز و چې په ۲۰۰۷ کال کې و. د هېواد د شمال، مرکز او لویدیځ پراخې سیمې په نسبي توګه کراره وې. افغان امنیتي ځواکونو چې ځواک او وړتیا یې مخ په ډېرېدو ده، په کابل ولایت کې د امنیت د ټینګولو مشري پر غاړه واخیست، چې له شور او ځوړ ه ډک یو ښمېربرېدونو سره سره پکې تاو تریخوالی کم شو. په ۲۰۰۸ کال کې د ایساف ځواکونو په شمېر کې هم د پام وړ ډېروالی رامنځته شو. آیساف د هېواد جنوب او ختیځ ته نور ځمکني ځواکونه واستول چې له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره پر هغو سیمو د خپل واک په ټینګولو کې مرسته وکړي چې مخکې د یاغیانو تر اغیز لاندې وې. د پاکستان له اړخه د اورپکو د را اوښتلو له روانو ننګونو سره سره ، د افغانستان او نوي ټاکل شوي پاکستاني حکومت تر منځ د اړیکو په ښه کېدو د دواړو هېوادو تر منځ د پولو په اوږدو کې پوځي همغګي هم ښه شوه. د کال په وروستیو کې د پولې دواړو غاړو ته د اورپکو پر ضد همغګو امنیتي عملیاتو مثبتي نتیجې وښولې.

.


## د ځواکونو اوسنی حال



## د امنيت پراخول

آيساف د خپلو پوځيانو شمېر چې د ۲۰۰۸ په فبروري کې ۴۳۰۰۰ و، د ۲۰۰۹ په فبروري کې ۵۶۰۰۰ ته لوړ کړ. د دې مانا په ډېرو هغو سيمو کې چې پخوا يې لږ يا هيڅ منظم امنيتي حضور نه و، د ډېرو پوځيانو شته والی و. نتيجه دا وه چې په حقيقت کې جګړې ډېرې شي ځکه اوريکې د هلمند ولايت د موسی کلا او ګرمسېر ولسواليو په شان له ځينو ډېرو ګڼ مېشتو سيمو څخه وشړل شول.

### د آيساف ځواکونو په شمېر کې ډېروالی




د ۲۰۰۹ کال په لومړيو کې آيساف د هيواد په ختيځ او مرکزي سيمو کې د خپل حضور پياوړي کول پيل کړل. د متحده ايالتو له خوا برابره شوې د پام وړ اندازې اضافي جګړه ييزې ورتيا په مهمو سيمو کې د آيساف له غبنتلي حضور سره مرسته کوي. يوه جګړه ييزه لوا لا له وړاندې په لوګر او وردګو ولايتو کې ځای پر ځای شوط چې د کابل جنوب او ختيځ ته د حلقوي سړک پر شاوخوا امنيت ټينګ کړي. د متحده ايالتو يوه جګړه ييزه هوايي لوا، يوه سمندري سفري لوا او يوه ميکانيزه برغليزه لوا به د هيواد د جنوب او جنوب لويديځ په هغو سيمو کې ځای پر ځای شي چې د ياغيانو فعاليتونه پکې ډېر دي.

په کاپيسا ولايت کې د يوې فرانسوی جګړه ييزې ډلې ځای پر ځای کېدو پلازمېنې ته نژدې مرکزي سيمه کې امنيت بنه کړ.



د ايساف يو پوځي او افغان پوليس په ګرمسېر ولسوالی کې د پاکولی له عملياتو وروسته يو ګډه ګزمه سرته رسوي

### د ګرم سېر ولسوالي – په تاوتريخوالي کې ۴۳ ٪ کموالی ، ۲۰۰۷-۲۰۰۸

د متحده ايالتو ځلورېشتمه سفري قطعې(۲۴th MEU), چې له آيساف سره خدمت کوي د ۲۰۰۸ کال د اپرېل پر ۲۸ نېټه په ګرم سېر ولسوالی کې عمليات پيل کړل. څلور ورځې وروسته سمندري ځواکونو د هلمند سيند ختيځ ته له شمال څخه جنوب ته غزېدلي اصلي لاره ونيوله او د نورو مورچلونو نيولو ته يې دوام ورکړ. د عملياتو په لومړني پړاو کې سمندري ځواکونو د هلمند شني سيمې ته چې له اقتصادي پلوه ډېر اهميت لري له ګرم سېر ولسوالی څخه تېرې شوې لارې چې مخکې بندې وې پرانستلې.

له يوې مياشتې سختې جګړې وروسته، سمندري ځواکونه د ثبات د ټينګولو عمليات پيل کړل. هغوی د فعالو ګزمو په ترسره کولو يو ټيکاو لرونکی چاپېريال رامنځته کړ. دا ګزمې وروسته کله چې افغان امنيتي ځواکونه په سيمه کې مېشت شول په ګډه تر سره کېدې. نوي امنيتي چاپېريال افغان وګړو ته دا ورتيا ورکړه چې بېرته خپلو کورونو ته چې دوه کاله وړاندې ياغيانو ترې ايستلي و ورستانه شي. آيساف ۸۲۳۰۰۰ امريکايي ډالره ځايي افغانانو ته ورکړل چې د جګړې له امله زيانمنې شوې ودانۍ پرې ورغوي.

سيمه ييزه خلکو همدا راز وشو کولای چې د ګرم سېر بازار او روغتون بېرته پرانيزي او په نژدې درېو کلونو کې خپله لومړنۍ شورا جوړه کړي. ځايي چارواکو د ويالو د رغاولو چارې وڅېړلې، نوري ځاګانې يې وکېندلې، ښوونځې يې ورغاول او د کارول شويو شيانو او د ساوريو د پلور بازارونه يې جوړ کړل چې ډېرو خلکو پکې ګډون کړی و.



د آیساف فرانسوي ځواکونه د کاپیسا ولایت په تګاب دره کې د پرمختګ په حال کې

## د کاپیسا عملیاتي ځواک – په کاپیسا کې د فرانسوي ځواکونو عملیات

شپږ سوه او پنځوس فرانسوي پوځیان د ختیځ سیمه ییزې قوماندانۍ په چوکاټ د ۲۰۰۸ کال په دوبي کې په کاپیسا ولایت کې ځای پر ځای شول. د هغو دنده کابل ته د لاسرسي په مهمو سیمو کې د آیساف د ورتیاوو پیاړوي کول دي. فرانسوي سرتېري له لاندې لارو د یوه کوټلي چلند پلي کولو ته ژمن دي:

- د لارو خوندي کول چې ازاد تګ راتګ پرې وشي؛
- د اورپکو د فعالیتونو او شبکو ګډوډول او د درو آخر سر ته د اورپکو په شما تمبول؛
- افغان ملي پوځ سره د څو پوستواو د ولایت په جنوب کې د یوې مهمې هدې په جوړولو کې مرسته؛
- د لارو خوندي کول چې ازاد تګ راتګ پرې وشي؛
- د کلیو له مشرانو سره د کلکو اړیکو ټینګول او د خلکو د عاجلو اړتیاو پوره کول، چې طبي مرستې هم پکې راځي. په سیمه کې دعملیاتي ځواک د حضور په لومړیو شپږو میاشتو کې د اوو سوو مشرانو او ۴۰۰ کوچنیانودرمنله وشوه؛
- په یوهٔ خوندي چاپېریال کې د ملکي پرمختیایی پروژو چې د ولایتي بیارغاونې ډلې او ملګري ملتو نه یې مشري کوي.

په کاپیسا کې د فرانسوي ځواکونو او افغان پوځ تر منځ د همغګیو عملیاتو په نتیجه کې، آیساف په سیمه کې د یاغیانو په فعالیتونو کې د کموالي ریپوټ ورکړ. له دې سره جوخت، د امنیتي وضعې ښه والی د مهمو بنسټیزو پروګرامونو پراختیا ته موقع برابره کړه، د بېلګې په توګه د امریکایي ولایتي بیا رغاونې ډلې په مشرۍ په کاپیسا کې د سړکونو لویه پروژه. ( منبع: د فرانسې د دفاع وزارت)

## د آزادو او منصفانه ټاکنو لپاره امنیتي ملاتړ

د ۲۰۰۹ کال ولسمشرۍ ټاکنې به په افغانستان کې د دموکراسۍ، چې په اساسي قانون کې تسجیل شوې، په پرمختیا کې یو بل مهم پړاو وي. د رایه ورکوونکو نوم لیکنه د افغان چارواکو له خوا او د آیساف په مرسته په اغېزمنه او بریالۍ توګه تر سره شوه. نژدې ۴.۴ ملیون نوي رایه ورکوونکي ثبت شول او د ټاکنو لپاره تیارۍ روان دی.

د دغو ټاکنو امنیت به تر ټولو مخکې افغان امنیتي ځواکونه ونیسي. لومړنۍ امنیتي کمبر بند له افغان ملي پولیسو سره وي او دویمه امنیتي کرښه له افغان ملي پوځ سره سوي. آیساف به په خپل وار د ملاتړ په دریمه لیکه کې وي. د دې موخې لپاره د نورو موقتي ځواکونو د برابرولو بهیر دوام لري.



د آيساف بريتانوی سرتېری له افغان کوچنيانو سره خبري کوي. د افغانستان خلکو، کلتور او مذهب ته درناوی د آيساف د ټولو منسوبينو لارښوونکي اصول دي. (د بريتانيا د دفاع وزارت)

## افغان ولسي وګړو ته درناوی


په ۲۰۰۸ کال کې د ولسي مرګ ژوبلې د ټول شمېر د ۸۰ ٪ پړه د اورپکو پر غاړه ده. ۹۷۳ کسان تر ډېره په کور د جوړو شويو چاودېدونکو توکو په بريدونه کې ووژل شول، په داسي حال کې چي د نړيوالو ځواکونو د پوځي عملياتو په نتيجه کې ۲۳۶ کسان ووژل شول. مهمه ده چي دا شمېرې په امنيتي پېښو په شمېر کې د ۳۳ ٪ توليز ډېروالي ، د آيساف په ځواک کې د ۳۷ ٪ ډېروالي او د آيساف افغان امنيتي ځواکونو په برغليزو عملياتو کې د ۳۱ ٪ ډېروالي په چوکاټ کې وڅېړل شي.

د ياغيانو له خوا بمي بريدونه چي د ۲۰۰۷ کال په پرتله په ۲۰۰۸ کال کې ۲۷ ٪ ډېروالی پکې راغی، اوس هم د ولسي مرګ ژوبلې تر ډېر لوی لامل دی. د نړيوالو ځواکونو له خوا د رامنځته شوي ولسي مرګ ژوبلې شمېر د ناټو سياسي او پوځي مشرتابه لپاره تل د اندېښني وړ خبره وه او وي به. د ۲۰۰۸ په نوامبر کې د آيساف قوماندان خپلو لاس لاندې قوماندانانو ته يو نوی، مفصل او پياوړی امر صادر کړ چي پکې ولسي وګړو ته د خطر د کمولو او پر افغان دود او دستور د کوم احتمالی تيري د مخنيوي ځانګړې لارښووني شوي دي. په دغه دايرکټيف يا لارښود کې د آيساف ځواکونو ته د نژدې هوايي ملاتړ کاروني، ګواښ ته د ځواب ورکولو د طرزالعملونو ، د کورونو د تلاشۍ، ريپوټ ورکولو او ګډو پلټنو په اړه لارښوونه شوي دي.

### امنيتي لنډيز

- ۳۳ ٪ ډېروالی په امنيتي پېښو کې
- ۷۰ ٪ امنيتي پېښي په ۱۰ ٪ ولسواليو کې پېښېږي
- بمي بريدونه ۲۷ ٪ ډېر شوي. د مرګ ژوبلې تر ټولو لوی لامل

- ۳۳ ٪ ډېروالی د ايساف ځواکونو په شمېر کې
- ۲۸ ٪ ډېروالی د افغان ملی امنيتي ځواکونو په شمېر کې
- ۳۱ ٪ ډېروالی په برغليزو عملياتو کې




**افغان ملي امنيتي ځواکونه**

- افغان ملي پوځ: ۱۳ نوي کنډکونه جوړ شول ۴۶ کنډکونه د جګړه ييزو عملياتو وړتيا لري
- افغان ملي پوليس: ۵۲ ولسواليو کې FDD روان دی د ANCOP له ۲۰ کنډکو ۱۳ په عمل کې دندې ته ګمارل شوي دي.

- ملکی تلفات: ۴۰ ٪ - ۵۶ ٪ ډېروالی
- د آيساف-ايتلافي پوځيانو مړينه: ۳۷ ٪ ډېر والی
- افغان ملي پوليس د افغان ملي پوځ /آيساف په پرتله درې ځله ډېر زيان ليدلی
- ۱۲۴ ٪ ډېر بريدونه پر GIRoA
- ۵۰ ٪ ډېرې تښتونې/ وژنې

د ۲۰۰۹ د جنوري تر ۳

## تکتيکي لارښود

ولسي وګړو ته د زيان د خطر د کمولو او د هغه چلند د مخنيو لپاره چې افغان خوابدي کوي، د آيساف قوماندان پر خپل تکتيکي لارښود په لاندې توګه له سره کتنه کړې:

- د آيساف په ټولو عملياتو کې له افغان ملي امنيتي ځواکو سره ملګرتيا؛
- د افغان کور، جومات، تاريخي يا مذهبي ځايونو ته له اجازې پرته نه ننوتل، مګر داچې کوم ځرګند و پيژندل شوي ګواښ وي؛
- افغانانو د هغو کلتور، رواجونو او اسلام ته د درناوي او پاملرنې ښوول؛
- له سپکاوي ، خوابدونکو حرکاتو، چاته بې ځايه د وسلې نيولو يا نښه کولو او بې احتياطه موټر چلولو څخه ډډه کول؛
- د اور له خپل ځواک څخه په کار اخيستلو کې د انډول، زغم په پام کې نيول او په ډزو کې پوره توپير کول- له رهبري شوي سيستم څخه ځومره چې کېدی شي ډېره ګټه اخيستل؛
- د ملکي تلفاتو سملاسی منل او په رڼه توګه د ادعاوو

څېړنه کول؛

- په ټول هېواد کې بايد يو ډول چلند غوره شي؛
- د يوه افغان له کوره د ډزوپه صورت کې، د ډګر قوماندان (له ځوابيه بريده وړاندې) بايد ځان ډاډه کړي چې د افغان کور کې بې ګناه ولسي وګړي نه وي؛ د ولسي مرګ ژوبلې ر ريپوټ ورکولو يوې رڼې کړنلارې د رامنځته کولو لپاره د ايساف قوماندان لاندې کارونه کړي دي:
- د ولسي مرګ ژوبلې د معلومولو يوه ډله يې رامنځته کړه چې پېښې ځاري؛
- د ادعاوو د ثبت او دغه راز د ادعاوو د رد او منلو لپاره يې يو سيستم رامنځته کړ؛
- د يوې ادعا د اعتبار د معلومولو او د سموالي په صورت کې يې د ريښتيني پلټنې د تر سره کولو لپاره يې يو دوه پړاويز سيستم رامنځته کړ؛
- په جګړه کې د رامنځته شوي زيان په اړه يې ارزونې د سيمه ييزه قوماندانی په کچه پياوړې کړې؛
- له يوناما او د نورو ملي او نړيوالو ټولنو او د آيساف قرارګاه تر منځ د خبرو اترو لپاره يې لارې چارې ځانګړې کړلې.

## د پولې له بلې غاړې ګواښ کمول

اوروپکو په پاکستان کې له بې ثباتی څخه ګټه اخيستې چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو او ايساف له لاسرسي لرې ځانته خوندي ځايونه جوړ کړي. له پولې پورې، ياغيان ښرته سره ټوليږي او بريدونه تر سره کوي، په تېره د افغانستان په ختيځو سيمو کې. د ايساف قوماندانو د ريپوټونو له مخې، د ۲۰۰۸ کال په لومړيو او نيمايي کې د پولې له پاکستاني اړخ څخه افغانستان ته د اورپکو د ننوتنو کچه خورا لوړه وه.

د دغو له پولې پورې فعاليتونو د مخنيوي لپاره ، ايساف او افغان ملي امنيتي ځواکونو له پاکستاني پوځ سره خپله همکاري ډېره کړې ده. په دې کې ګډ عمليات هم راځي چې ياغيان ونه شي کولای په آزاده توګه د پولې يوه يا بل اړخ ته واوړي. ايساف او افغان او پاکستاني پوځيان د درې اړخيز کميسيون او د درې اړخيز ګډو استخباراتي عملياتو مرکز(T-JIOC) د منظمو غونډو له لارې خپل عمليات همغږي کوي. د کميسيون تر څنګ ، د دريو سازمانونو د پوځي ځواکونو تر منځ پولې ته نژدې منظمه همغږی هم پياوړې شوې ده.




د ايساف قوماندان جنرال ډېوېډ مککرنين، د پاکسان د پوځ مشر جنرال اشفاق کياني (په منځ کې) او د افغان ملي پوځ لوی درستيز جنرال بسم الله خان محمودي ( ښي اړخ ته) د ۲۰۰۹ په جنوري کې د افغانستان په دفاع وزارت کې د درې اړخيز کميسيون له يوې غونډې وروسته.

**په داسي حال کې چې د شمالي پولې په اوږدو کې د ځمکي ځرنګوالی د تېرېدو را تېرېدو لارو پرېکول خورا ډېر ګرانوي، د امريکايي ، نړيوالو او افغان ملي امنيتي ځواکونو او پاکستاني پوځ تر منځ د همکارۍ عمليات کولای د بغاوت پر ځپلو د پام وړ مثبت اغيز ولري. په تېر وخت کې، کله چې ايساف پولې ته نژدې عمليات تر سره کول، طالبان او د هغو ملګري به پر پوله پاکستان ته ور واوښتل او کله به چې پاکستانی پوځ پولې ته څېرمه قبايلي سيمو ته ورغلل، اورپکي افغانستان ته را اوښتل. خو سږ کال د ايساف، افغان امنيتي ځواکونو او د پاکستان پوځ تر منځ همکاري ډېره ښه شوې ده چې له امله يې د افغانستان په شمال ختيځ کونړ ولايت او د پاکستان اړخ ته نژدې سيمه باجوړ ايجنسۍ کې همغګي عمليات تر سره شول.**

د ايساف د ارتباط افسر، د ختيځ سيمه ييزه قوماندانی

د تورخم په سيمه کې د ۲۰۰۸ په مارچ کې د خيبر د سرحدي همغګۍ مرکز له پرانستل کېدو وروروسته ، د سرحدي همغګۍ دوه نور مرکزونه اوس د (پکتيکا) په لواړه او د (کونړ) په ناوه پاس کې د جوړېدو په حال کې دي چې په ۲۰۰۹ کال کې به پوره عملياتي وړتيا ومومي.
په سياسي کچه، ناټو له پاکستاني چارواکو سره خپل تماسونه پراخوي چې د پاکستان په لويديځ کې د اورپکو له ګواښ سره د مقابلې لپاره همکاري او هڅې ګړندۍ شي.




د خيبر دره تر ټول ډېره مهمه غرنۍ لار ده چې افغانستان له پاکستان سره نښلوي.



د افغان ملي پوليسو يو غړی د موټرو تګ راتګ ځاري په داسې حال کې چې يو بل افغان سرتېری د ۲۰۰۸ کال به جون کې د کونړ ولايت د دواب سيمې په يوه سرحدي پوسته يو موټر تلاشي کوي.



د ايساف يو سرتېری د افغان ملي پوځ له يوهٔ سرتېري او د دواب کلي يوهٔ مشر سره د پاکستان پولې ته نژدې د تلاشۍ په يوه


## له افغان ملی امنیتی ځواکونو سره مرسته


په ۲۰۰۸ کال کې د افغان حکومت د رهبرۍ د پیاوړتیا یو مهم پړاو له نړیوالو سوله ساتو ځواکونو افغان امنیتي ځواکونو ته د کابل ولایت د امنیتي چارو د مسئولیت لیږدول و.


### د افغانانو لخوا د کابل د امنیتي چارو مسئولیت پرغاړه اخیستل

- د کابل ۳۱٪ خلك په دې اند دي، چې د ۲۰۰۸ کال له جون نه تر سپټمبره امنیتي حالت ښه شوی دی. یوازې ۱۰٪ خلکو فکر کاوه چې حالت خراب شوی دی. (د افغانستان د درې میاشنۍ ملي ارزونې رپوټ.)
- ثبت شوې پېښې او رپوټ شوي جنایتونه د مسئولیت له سپارلو وروسته کم شوي دي.
- دافغان ملي امنیتي ځواکونو د زیانونه کچه په ۲۰۰۸ کال کې ۶۱٪ ټیټه شوې ده.

لیږد ······ له لیږد وړاندې — · — · — له لیږد وروسته — · — · —




د دغه شان مثبتو پرمختګونو ساتنه او پراختیا د کافي او ښو روزل شویو افغان امنیتي ځواکونو دوامدار حضور ته اړتیا لري. تېر کال همغګۍ د څارنې ګډ بورډ (JCMB) تر ۲۰۱۳ کاله له ۸۲،۱۸۰ نه ۱۳۴۰۰۰ تنو ته د افغان ملي پوځ د سرتېرو د شمېرې لوړول تصویب کړل. د امریکا په مشرۍ د ګډې انتقالي امنیتي قوماندې (CSTC-A) او افغانستان هڅو افغان ملي پوځ د منظم ډېروالي ور وګرځاوه. له ۲۰۰۷ کال نه را پدېخوا هر کال ۲۶۰۰۰ نوي کسان روزل شوي چې دغه شمېره په ۲۰۰۹ کال کې ۲۸۰۰۰ اټکل کېږي.

د پایلې په توګه د افغانستان د ملي دفاع وزارت د سرتېرو د ساحوي ګرندیتوب پلان اوس د افغان ملي پوځ د ټول ساحوي هدف نېټه د ۲۰۱۱ کال ډسمبر ته راوړاندې کړې ده.



د افغان ملي پوځ یو سرتېری له جرمني سرتېري سره په مزار شریف کې ګډې ګزمې په حال کې

## د ۲۰۰۸ کال له جنوري نه د ۲۰۰۸ کال تر ډسمبرپورې د افغان ملي پوځ پرمختګ

### د کنډك په کچه وړتياوې




**مهم ټکي:**

ډګر کې د ملي پوځ ځای پرځای کېدل : د ۰۸ کال له جنوري نه د همدغه کال تر ډسمبره پورې، ۱۳ کنډکه ساحې ته استول شوي.(په دوی کې پلي، جنګي ملاتړ کوونکي، د جنګي خدمتونو ملاتړ کوونکي او کوماندو شامل وو.

د افغان ملي پوځ غړي: د افغان ملي پوځ د ځمکنيو پوځونو شمېره له ۳۱،۳۴۲ نه چې د ۰۸ کال په جنوري کې وه، د همدغه کال په ډسمبر کې ۴۴،۰۵۱ ته لوړه شوه.
د افغان ملي پوځ د ټولو په کار ګومارل شويو غړو شمېره د ۰۸ کال په جنوري کې له ۴۹، ۴۵۲ نه د همدغه کال تر ډسمبره ۶۷،۲۶۳ ته لوړه شوه.

د افغان ملي پوځ وړتياوې:
۲۱ کنډکونو ته د لومړۍ درجې مهم پړاو وړتياوې رسېدلي دي. دغه اسانتياوې دوی ته توان ورکوي چې د يوه کنډك په کچه پرته له بهرنۍ مرستې د عمليات پلان جوړ او ترسره يې کړي.
۲۳ کنډکونو ته د دوهمې درجې مهم پړاو وړتياوې رسېدلي دي. دغه اسانتياوې دوی ته توان ورکوي چې د يوه کنډك په کچه له بهرنۍ مرستې سره عمليات پلان او ترسره کړي.
۲۲ کنډکونو ته د دريمې درجې مهم پړاو وړتياوې رسېدلي دي. دغه اسانتياوې دوی ته توان ورکوي، چې له ډېرې لږې بهرنۍ مرستې سره عمليات پلان او تر سره کړي.
۲ کنډکونو ته د څلورمې درجې مهم پړاو وړتياوې رسېدلي دي. سرتېري په سيمه کې ځای پرځای شوي خو ددې وړتيا نه لري چې عمليات پلان او ياهم رهبري کړي.

د افغان ملي پوځ د عملياتو رهبري د ۰۸ په جنوري کې له ۴۹٪ د همدغه کال تر ډسمبره ۶۲٪ ته لوړه شوې ده.

د (CSTC-A) په وينا اوس د افغان ملي پوځ نيمايي قطعې يا د عملياتو د مشرۍ وړتيا لري او يا هم په بشپړه توګه عملياتي وړتياوې ورته رسېدلي دي. په نتيجه کې، په ۲۰۰۸ کال کې د ټول هيواد په کچه د ۶۲٪ عمليات مشري افغان ملي پوځ کوله.

د ۲۰۱۱ کال تر ډسمبر پورې به افغان ملي پوځ ۲۱ لواوې ولري: ۱۸ پلي لواوې، يوه ميکانيزه لوا، يوه د قوماندانيو د امنيتي ملاتړ لوا او يوه کوماندو لوا چې په پنځو قول اردوګانو او يوه مرکزي فرقه به تنظيم وي .

له دغه چټك بهير سره د ايساف مرسته اساسا د عملياتي لاربښوونو او اړيکو د ډلې(OMLTS) لخوا برابرېږي. دغه سلاکار ټيمونه د ناټو د متحدينو او همکارانو لخوا سيمې ته استول شوي دي. د ۲۰۰۹ کال د مارچ په نيمايي کې د ناټو عملياتي لاربښوونو او اړيکو ۵۲ ټنه کارکوونکي سيمې ته استولي.
د افغان ملي پوځ د وړتيا اوچتول د ۲۰۱۰ په ډسمبر کې د آيساف د عملياتي لاربښوونو او اړيکو د غړو د شمېرې له ۶۲ نه ۸۴ ته اوچتولو ته اړتيا لري. ددې ترڅنګ په هدف او څرنګوالي کې د متحده ايالتونو د ځای پرځای شويو روزنيزو ډلو او د ناټو د سلاکارو ډلو شته والی کولای شي د تشو ډکولو ته دوام ورکړي. د کميو پوره کول کولای شي د بشپړ خپلواك او عملياتي افغان ملي پوځ پراختيا چټکه کړي.



له فرانسوي OMLT څخه د ايساف يوسرتېرى د ګډې ګزمې پر مهال افغان پوځيان ګاري

---

[1] ايساف SCR/ د ستراتيژيکه مشورتي ډله د افغان ملی پوځ په اړه رپيوټ ۲۰۰۹

[2] د ۲۰ او ۴۰ پوځي کارپوهانو ډلې چې د افغان ملي پوځ په قطعاتو کې ځای پر ځای کېږي چې عملياتي مهارتونه پياوړي او افغان قطعات مسلکی کړي

له افغان ملي پوځ سره د ناټو- ایساف د مرستې یوه بله مهمه برخه د ناټو له لارې افغان ملي پوځ ته د توکو د رسولو او دغه پوځ ته د کسانو د جذبولو د لګښت د ورکولو پروګرام دی. دغه پیسې په دې وروستیو کې افغان ملي پوځ ته د اړتیا وړ تجهیزاتو د برابرولو د شاملېدو لپاره پراخ شوی دی.

دا مهال افغان ملي پوځ د وارسا تړون له تجهیزاتو د ناټو په معیاري وسلو تجهیزیدو ته د اوښتو په حال کې ده. د مهال وېش له مخې به دغه پروسه په ۲۰۰۹ کال کې بشپړه شي.



د افغان ملي پوځ یو سرتېری د یوې MI-۲۴ چورلکې ننداره کوي چې د ۲۰۰۹ په فبروري کې له بلې الوتکې څخه را ایستل کېږي. دا د هغو ۱۲ ترانسپورتي او یرغلیزو چورلکو وروستۍ ده چې د چک جمهوریت افغان ملي پوځ ته ورکړي.

## د افغان ملي پوځ د اماناتو صندوق

د افغان ملي پوځ د اماناتو صندوق د ۲۰۰۷ کال په سر کې په دې موخه جوړ شو، چې د هیوادونو لخوا د اړتیا وړ توکو د نه پوره کولو په صورت کې د ملي پوځ د ترانسپورتېشن او استخدام لګښت برابرکړي. د افغان ملي پوځ د توان د پراختیا صندوق د شمالي اتلانتیك د شورالخوا تصویب شو. دغه تصمیم د ناټو او سوله ساتو ځواکونو غړو هیوادونو ته له افغان ملي پوځ سره د مرستې په اړه د ډېرې انعطاف پذیرۍ توان ورکوي. د ۲۰۰۹ په فبروري کې لګول شویو پیسو کچه له ۱۸.۵ میلیونو یورو واوښته.

د ۲۰۰۸ په اکتوبر کې په بوداپست کې د دفاع وزیرانو په غونډه کې د افغانستان د ملي دفاع وزیر وړاندیز وکړ چې ناټو دې د افغان ملي پوځ د لا پیاوړتیا د ملاتړ په موخه د پیسو برابرولو ته دوام ورکړي. په دې کې بشپړې لوژستیکي ټولګې، خوراکي توکي، معاشونه او داسې نور شامل دي. شورا تصمیم ونیوه چې د افغان ملي پوځ د پیاوړتیا لپاره داماناتو صندوق پراخ کړي. دغه پراختیا به د پنځو کلونو لپاره دوام وکړي، وروسته له هغې به په دغه تصمیم له سره کتنه وشي. د پوځ د اماناتو دغه صندق به افغان ملي پوځ ته د نړیوالو مرستو رسولو اصلي لار وي.

.

## افغان ملي پوځ ته د تجهیزاتو بسپنه

| | |
|---|---|
| **بلغاریا:** | توغندي او مهمات |
| **کاناډا:** | سپکې وسلې، مهمات او نور توکي |
| **چك جمهوریت:** | چورلکې |
| **استونیا:** | سپکې وسلې او مهمات |
| **فنلنډ:** | صحرایی ټیفلونونه او جنراتورونه |
| **جرمني** | کمپلې، جامې او نور توکي |
| **هنګري:** | سپکې وسلې او مهمات |
| **لېتوانیا:** | مهمات |
| **لوکزامبورګ:** | زغرې او خولۍ |
| **مونتینګرو:** | سپکې وسلې او مهمات |
| **سلووینیا:** | سپکې وسلې، توغندي او مهمات |
| **سویټزرلنډ:** | د اور وژنې ګاډي، مرسته او روزنه |
| **ترکیه:** | توپونه او مهمات، جامې او د پوځې اکاډمي د توکو برابرول |

د بلغاریا، چك جمهوریت، ډنمارك، فرانسې، یونان، لېتویا، ناروې، پولنډ او بریتانیا لخوا نور وړاندیزونه تر غورلاندې دي.



افغان سرتېري د کندهار په نړیوال هوایي ډګر کې له الوتکې څخه د راکښته کېدو په حال کې. دوی د ۲۰۰۸ کال په جون کې په ارغنداب ولسوالۍ کې له عملیاتو راستانه شوي.

## د افغان ملي پوځ هوايي ځواک

د افغان ملي پوځ هوايي ځواک جوړول د ملي پوځ د ورتیاوو په ډېرولو کې چې په خپلواکه توګه عملیات وکړي، یو مهم پړاو دی. هوايي ځواک روزل شوي او چمتو هوابازان او سرتېري برابروي چې د دفاع وزیر او لوی درستیز په امر به په ټولو کچو د افغانستان د ملکي چارواکو د ساتنې لپاره د ملي پوځ په ملاتړ مهمې دندې ترسره کړي.

د امریکا په مشرۍ روزنې او د نورو هېوادو د مرستو ، د افغانستان هوايي ځواک اوس له ایساف سره د هوايي دندو پېټې پورته کولی شی، په ځانګړې توګه یې په ۲۰۰۹ کې د افغان ملي پوځ د هوايي ملاتړ ۹۰ ٪ دندې تر سره کړې، په داسې حال کې چې د ۲۰۰۸ کال په پیل کې یې یوازې ۱۰ ٪ دندې تر سره کولای شوې.

د افغان ملي پوځ هوايي ځواک د ۲۰۰۸ کال د جون پر ۱۶ له یاغیانو څخه د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د بېرته نیولو په عملیاتو کې خپل ارزښت ښکاره کړ. هوايي ځواک په څه کم ځلوریشتو ساعتو کې ۹۱۰ سرتېری او ۱۲۳۰۰ کیلو ګرامه کارګو له کابل څخه کندهار ته وشو لېږدولی. ټول دغه سرتېري د ۲۰۰۸ د جون تر ۲۲ بېرته په الوتکو کې راوستل شول.

افغان هوايي ځواک له هغه راهیسې یو شمېر ماموریتونه تر سره کړي دي ، په ځانګړې توګه له ایساف سره په ګډه د افغانستان بېلابېلو سیمو ته د موادو او سرتېرو په لېږدولو کې.

په پام کې ده چې د افغان هوايي ځواک وړتیا تر ۲۰۱۶ کال وده وکړي. هغه مهال به شاوخوا ۷۰۰۰ پرسونل او ۱۲۹ الوتکې او چورلکې ولري او خپله پوره عملیاتي وړتیا به تر لاسه کړي.

[4] کاناډا، د چک جمهوریت، هنګري، هند، ترکیه او بریتانیا

د افغان ملي پوځ د پایدونکې اغېزمنیا لپاره پکار ده چې دغه ځواک د خوځښت ښه وړتیا ولري. د افغان ملي پوځ د یوه تکړه هوايي ځواک د جوړولو لپاره هڅې ګړندۍ شوې چې د پام وړ بری یې لاره. په تېره د ۲۰۰۸ کال په جون کې په کندهار کې د زندان له ماتېدوسمدلاسه وروسته ، افغان ملي پوځ له کابل څخه کندهار ته د هوايي ځواک په کارولو د خپلو کنډکونو په لېږدولو کې چټکتیا او چستي څرګنده کړه.



د افغان ملي پولیسو افسران د ۲۰۰۹ په جون کې کابل کې خپل روزنیز کورس بشپړه کړ.

په ۲۰۰۸ کال کې پر زیان مننونکو حکومتي هدفونو په تېره د پولیسو پر لرې پرتو پوستو چې ډېر لږ شمېر ملي پولیس پکې و د یاغیانو بریدونه ډېر شول. له ۲۰۰۷ کال راهیسې د امنتي ځواکونو د مرګ ژوبلې په سلو کې ۶۰ افغان ملي پولیسو ته وراوښتې ده .

د افغان ملي پولیسو پراختیا د افغان ملي پوځ په پرتله سسته ده. ملي پولیس اوس هم د فساد او کمزورۍ له ټورونو سره مخامخ دي او په همدې دلیل دا مهال د ولس له پراخ ډاډ او ملاتړ څخه، چې د امنیتي چاپېریال د ښه کولو لپاره ورته اړتیا ده ، برخمن نه دي.

[3] امنیتي محاسبې، SHAPE د ۲۰۰۸ اکتوبر



افغان ملي پولیس او د کندهار د ولایتي بیارغونې د ډلې کاناډایي سرتېري په کندهار ښار کې د پلې ګزمې په حال کې (عکس د کاناډا د دفاع وزارت)

دغې شا ځمکې ته په پام سره، افغان حکومت په ۲۰۰۸ کال کې د خپلو او نړیوالې ټولنې د هڅو د پراختیا په موخه یو شمېر ګامونه پورته کړل چې دغه نیمګړتیاوې له منځه یوسي. د ۲۰۰۸ کال په جون کې د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژۍ اعلان او د افغانستان د کورنیو چارو وزارت لخوا د پولیسو وروستی ریفورم او اصلاح په دغه هیواد کې د پولیسو د پیاوړی او وړتیا لرونکې ځواك جوړولو دوه مهم پړاوونه وو. سربېره پر دې ۸۲،۱۸۰ تنو ته د افغان ملي پولیسو د شمېرې لوړولو لپاره د لوړې کچې بېلابېل لومړیتوبونه مشخص شوي دي.

- د اوسنیو روزنیزو پروګرامونو پراختیا او چټکتیا؛
- له افغان ملي پوځ سره د ملي پولیسو د معاشونو او نورو امتیازونو برابرول، چې پر بنسټ یې د فساد او د پولیسو له لیکو د خلکو له تښتېدو سره مبارزه وشي؛
- له سیمه ییزو ادارو د پولیسو د یوموټي کولو د بهیر پیاوړي کول؛
- د افغان ملي پولیسو او ملي پوځ د همکارۍ او ګډو هڅو پیاوړتیا.

افغان حکومت د ټولنیزې پراختیا او د افغانستان د عامه ساتنې د ځواك د پروګرامونو له لارې د ملي پولیسو د معاشونو د لوړولو، هغوی ته د نورو اسانتیاو د برابرولو او د ولسوالیو په کچه د هغوی د پیاوړتیا په اړه یو لړ ګامونه پورته کړي.

د پولیسو د همغږۍ د نړیوالې هیات (IPCB) د پولیسو د جوړولو په اړه د افغان حکومت لومړیتوبونه منعکسوي. د اروپایي ټولنې د پولیسو ماموریت(EUPOL) او CSTC-A د افغان پولیسو د وړتیا و د لوړولو په اړه دوه عمده همکاران دي. د افغانستان له کورنیو چارو وزارت سره د په اغیزمنه توګه د قانون د پلي کولو او د قانوني ادارو او پالیسیو د جوړولو په برخه کې د پخوانیو مرستو تر څنګ ، وروستیو هڅو کې تر ډېره تخنیکي موضوعګانو ته پام اړول شوی دی، چې په کې د پولیسو ملاتړ، روزنه او تجهیزول شامل دي. د ولسوالیو د پراختیا په اړه د ټینګار په برخه کې د امریکا په مشرۍ د ګډې انتقالي امنیتي قوماندې او افغانستان د هڅو ستراتیژي د پولیس افسرانو لپاره په ټاکل شویو ولسوالیو کې د بیا روزلو د سیستماتیك پروګرام د پام وړ بریالیتوبونه لرلي دي.

له افغان ملي پولیسو سره مرسته د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو له مهمو دندو حسابېږي. ددغو مرستو ډېره برخه د سیمه ییزو امنیتي کمېټو او سیمه ییزو عملیاتي همغږیو د مرکزونو لخوا برابره شوې وه. دا ټول د افغان ملي پوځ، افغان ملي پولیسو او نړیوالو سوله ساتو ځواکونو په ګډو هڅو شوي دي. ایساف ځواکونه دا خبره یقیني کوي چې د ولسوالیو په کچه د CSTC-A د پولیسو د څارنې ډلې د سیمه ییزې قوماندې په چوکاټ کې ورګډې شي.
دا مهال د افغان ملي پولیسو شمېر ۷۶۰۰۰ دی. ټاکل شوی شمېر یې ۸۲۱۸۰ دی.

[5] EUPOL، یوناما، ناټو، LOTFA او CSTC-A د IPCB غړي دي.

## عامه انګېرنه

په پايدونکې توګه  په ټول هېواد کې د امنيت د ډېرولو لپاره د عوامو د  ملاتړ ترلاسه کول د نړيوالو او حکومتي ځواکونو لپاره ډېر مهم دي.

د افغانانو د يوې نظر پوښتنې له مخې چې په ۲۰۰۸ کال ې  اېشيا فونډېشن تر سره کړه ، د حکومت د اغېزمنتيا په اړه نظرونه  له يوې سيمې تر بلې سيمې  توپير لري .  سروې ښودلې وه چې په شمالي، لوېديځو، مرکزي او د ختيځ په يو شمېر سيمو کې خلکو وويل چې  امنيت د ملي پراختيا د مثبت شاخص په توګه ښه شوی و. په سوېل لوېديځ، سوېل ختيځ او د کابل په مرکزي سيمو کې ځوابونو د امنيت ناسم حالت ښودلی و.  په کابل کې د له شوره ډکو بريدونو، د جنايتونود ډېروالي او له ښاره بهر پر  زيان مننونکو حکومتي پوستو د بريدونو په نتيجه  پر حکومت باور کم کړ.

خپلواکه سروې ګانې ښيي، چې له دې ټولو سره سره افغانان نه غواړي طالبان بېرته واك ته ورسېږي.  د بي بي سي، اې آر ډي او اې بي سي د سروې له مخې، ښايي يوازې څلور په سلو کې خلك  ډېر کم د طالبانو واك ته رسېدل وغواړي، په داسې حال کې چې ۸۲٪ په سلو کې خلك د اوسني حکومت ملاتړ کوي.  سربېره پردې د افغانانو ډېره برخه هڅه کوي، چې د اوسني حکومت ملاتړ وکړي او په دې خوښ دي چې تر يوه وخته دې نړيوال دلته پياوړی حضور ولري. دغه احساس د اېشيا فونډېشن په هغې سروې کې پياوړی ښودل شوی چې په کې ۸۶٪ په سلو کې افغانان په دې اند دي چې افغان ملي پوځ د امنيت په ټينګېدو کې مرسته کوي. سروې همدارنګه مالومه کړې چې ۶۹٪ خلك وايي چې افغان ملي پوځ لا نه دی تيار چې د نړيوالو ځواکونو له ملاتړه پرته د هيواد امنيت ټينګ او اداره کړي.



افغانان له يو بل سره د خبرو په حال کې

[۶] د ايشا فونډېشن سروې، اکتوبر ۲۰۰۸

# حکومتداري

## حکومت بې له پوځ، پوځ بې له پيسو، پيسې بې له برياليتوبه او برياليتوب بې له عدالت او ښې ادارې نه شي رامنځته کېداى .

( د نهمې پېړۍ مشهور مسلمان پوه ابن قتيبه، د عدالت کړۍ کتاب.)
دغه خبر همدارنگه د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژۍ کې هم را اخيستل شوې ده.

د ۲۰۰۱ کال په ډسمبر مياشت کې بن تړون په افغانستان کې د حکومت جوړونې يو قانوني پلان او بنسټيز چوکاټ جوړ کړ. څو لسيزې جگړې، د يوې ملي زېربنا تقريبا نشتوالي، د بې سوادۍ لوړې کچې، پراخې بې وزلۍ او اوږدې مودې وروسته پاتې والي افغانستان د ملگرو ملتونو د بشري پراختيا د شاخص له مخې د ۱۷۸ هيوادونو په کتار کې ۱۷۴ هيواد راوست. د بن بهير د يوهٔ قانوني او ټاکلي ولسمشر او پارلمان او د يوهٔ مسلکي حکومت جوړېدو ته لاره پرانيسته. د ۲۰۰۶ کال په سر کې افغان حکومت او نړيواله ټولنه په لندن کې سره راټول شول چې د دغه هيواد د بيارغونې لپاره يوه ستراتيژي جوړه کړي . په پايله کې د افغانستان ملي پراختيايي ستراتيژي جوړه شوه چې موخه يې په ملي، ولايتي او د ولسواليو په کچه د يوه داسې اغېزناك حکومت جوړول وچې خلکو ته د بنسټيزو خدماتو د رسولو وړتيا ولري.

په دې برخه کې د ناټو رول دا دی چې د ښه حکومت د اړين عنصر په توگه د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د جوړېدو له توان سره مرسته وکړي. افغان ملي امنيتي ځواکونه او آيساف د اقتصادي ودې او ټولنيزې پراختيا په موخه د امنيت ټينگولو لپاره کار کوي. د سوله ساتو ځواکونو د ولايتي بيا رغونې ډلې په سيمه ييزه کچه د ظرفيت جوړونې د فعاليتونو، سلا ورکولو او روزنې ملاتړ کوي. دغه ډلې همدارنگه په پراختيايي چارو بوختو ټولنو او افغان چارواکو ترمنځ د اغيزمنو اړيکو په ټينگولو کې هم مرسته کوي.



د افغان ملي پوليسو يو سرتېرى له کليوالو سره غږېږي.
(د فرانسې د دفاع وزارت)



د افغان ملي پوځ سرتېري د سروبي ولسوالۍ په اوزبين دره کې له کليوالو سره خبرې کوي.

[7] د بن تړون د افغانستان لنډمهاله اداره رامنځته کړه او د هيواد د ادارې لپاره يې لومړنى پلان رامنځته کړ.

[8] د افغانستان تړون چې د ۲۰۰۶ د فبرورې پر لومړۍ نېټه تصويب شو د نړيوالې ټولنې او افغان حکومت تر منځ د ۲۰۰۶ او ۲۰۱۱ مودې لپاره د سياسي همکارۍ اصول وټاکل.



افغانان د شورا له لارې د خپل هېواد په سياسي ژوند کې برخه اخلي.

د ښه حکومت او اغېزناکو بسنتېونو جوړول له ننگونو ډک کار ثابت شوی دی. د افغان حکومت ظرفيت له دې امله چې پوره شمېر لوستي ، روزل شوي اود ښه معاش لرونکي کارکوونکي نه لري، ډېره محدوده ده. شته کارکونکي يې لږه وړتيا لري او کېدی شي په فساد اخته شي . وزيران د ولايتونو او ولسواليو د موثرې ادارې د پراختيا لپاره بشپړ ظرفيت نه لري. د ولايتونو او ولسواليو په کچه، سيمه ييزې ادارې له دغې ستونزې سختې زيانمنې شوې دي.

د نا امنيو او جرمونو دوام او په سيمو کې د نشه يي توکو د سوداگرۍ پراخ نفوذ نور هغه لاملونه دي چې د ښې حکومتدارۍ مخه نيسي.

له دغو ننگونو سره سره افغان حکومت ان د هيواد په لرې پرتو برخو کې د خپل حضور د پراخوالي او خپراوي لپاره پرمختگونه کړي دي. د بي بي سي، اې بي سي او اې آر ډي سروې ښيي چې د افغانستان ۶۷٪ سروې شوي خلك په دې اند دي چې ددوی په سيمو کې د مرکزي حکومت شتون د پام وړ و. همدغې نظر پوښتنې د ولايتي چارواکو او سيمه ييزو پوليسو په اړه ورته نظرونه په ډاگه کړي وو . ډېری ځواب ورکوونکو د طالبانو حضور ډېر لږ ښودلی دی. د افغانانو هېڅ سروې د طالبانو د حکومت د بيا راتگ سره د خلکو لېوالتيا نه ده ښودلې.

[9] BBC/ABC/ARD د افغانانو نظر پوښتنه، د مرکزي حکومت حضور- ډېر پياوړی- ۲۶ ٪، نسبتاً پياوړی – ۴۱ ٪

[10] BBC/ABC/ARD د افغانانو نظر پوښتنه، د ولايتي حکومت حضور- ډېر پياوړی- ۲۵ ٪، نسبتاً پياوړی – ۴۴ ٪ او د سيمه ييز پوليس حضور- ډېر پياوړی- ۲۹ ٪، نسبتاً پياوړی – ۴۴ ٪

# ملي کچه

**تر ټولو مهمه مرسته چې موږ يې له افغانستان سره کولای شو د بنسټونو د جوړولو پراخ او همغاړی پروګرام دی. د بنسټونو جوړول يوازې د پټې پرېکولو مراسم يا د عکسونو د اخيستلو کوم فرصت نه برابروي ، بلکې پر خپلو پښو د افغانستان د درېدو ـ او له افغانستان څخه د نړيوالو د وتلو د ستراتيژۍ کيلي ده.**

افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د سرمنشي ځانګړی استازی، کای ايده ، مارچ ۲۰۰۹



زنان افغان عضو پارلمان نقش روزافزونی در تقويت حکومت داری در تمام افغانستان بازی ميکنند.

په ۲۰۰۱ کال د بن له تړون نه وروسته، د نړيوالې ټولنې هڅې د حکومتي موسسو په پراختيا چې اغېزناکې، ټينګې او وړتيا لرونکې وي او وکولای شي په ټول هيواد کې خلکو ته بنسټيز خدمتونه وړاندې کړي ورټولې دي.په ملي کچه افغان حکومت او نړيواله ټولنه د حکومت د اصلي وړتياو ټينګولو ته چې د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژۍ کې مشخص شوي ادامه ورکوي.

## حکومت:

د ملګرو ملتونو پراختيايي اداره يو ان ډي پي د حکومت کولو لپاره د اعتبار وړ جوړښتونو په رامنځته کولو کې مهم رول درلود. د دولت جوړولو، او د دموکراسي او مدني ټولنې ځواکمنتيا په موخه ډېر لوی پروګرامونه د يو ان ډي پي تر چتر لاندې راغلي او د همغږۍ د څارنې مشترک بورډ له لوري همغاړي کېږي. په دغو پروګرامونو کې د ملکي وړتيا جوړونه او په مرکزي او او ولايتي کچه د اصلاحاتو رامنځته کول شامل دي. ددې ترڅنګ په دې کې مالي حسابداري، د اړيکو پراختيا او په وزارتونو کې پرمختيايي/معلوماتي مديريت او د هيواد د عدلي سيستم د پياوړي کولو او د نشه يي توکو ضد برخې په کې هم شاملې دي.

### د حکومت د پياوړتيا پروګرامونه

دا مهال د حکومتدارۍ له غښتلتيا سره د مرستې بېلابېل پروګرامونه پيل شوي، چې لاندې هغه هم په کې شامل دي:

- د راتلونکي لپاره د قانوني او انتخاباتي وړتياو لوړول.( دغه پروګرام د نورو ترڅنګ د ټاکنو د خپلواك کميسيون وړتيا لوړوي.)
- د افغانستان د مقننه ځواک له جوړېدو سره مرسته.( دغه پروګرام په افغانستان کې د قانونيت د ټينګښت، د نيمګړتياو د پوره کولو او د وکيلانو د وړتياو د لوړولوله لارې د لا اغېزناك پارلمان د رامنځته کېدو ملاتړ کوي.)
- د افغانستان د عامه خدماتو د وړتيا پروګرام. ( دغه پروګرام د ولايتونو او ولسواليو په کچه د لوړ پوړو ملکي کارکوونکو او د مديريت او اداري پر لومړنۍ روزنې ټينګار کوي.)
- د افغانستان د نظم او قانون اماناتو صندوق. ( په دغه پروګرام کې په ملي کچه د پوليسو معاشونه، بنسټيزه پراختيا، د غير وژونکو تجهيزاتو را ټول يا د پوليسو د تاسيساتو بيا رغونه شامل دي.)
- د افغانستان د ولايتي حکومتدارۍ پروګرام. ( دغه پروګرام په مرکزي او ولايتي کچه د عامه ادارو د پ‌ء اصلاح ورټول دی.)
- د ولسواليو په کچه عدالت ته لاسرسی.

[11] JCMB د افغانستان کامپکټ د پلي کولو لباره د همغگۍ يو ټولنه ده چې د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې استازې پکې ګډون لري. دا ټولنه په کامپکټ د ټاکل شويو شاخصونو او مهال ويش د همغگۍ، تطبيق او تمويل چارې همغگې کوي او د تړون د تطبيق د څرنګوالي ريپوټ ورکوي.

## د قانون واکمني

ایټالیا په قضایي اصلاحاتو کې د افغانستان د همکار هیواد په توګه د مهمو نړیوالو همکارانو د همغږۍ د پیاوړتیا لپاره په ۲۰۰۷ کال کې د روم کنفرانس په کوربه توب دې برخې ته خوځښت ورکړی دی.

### د قانون واکمني

په روم کې د قانون د واکمنۍ په اړه د جوړ شوي کنفرانس پایله د ملي قضایي پروګرام جوړېدل شول. دا د اصلاحاتو پنځه کلن پروګرام دی، چې د سکتوري ستراتیژۍ مهم ټکي عملي کوي. د کنفرانس په لړ کې د۳۶۰ میلیون امریکایي ډالرو ژمنه وشوه. په وروستیو پرمختګونو کې لاندې ټکي شامل دي:

- د قضایي سکتور ملي ستراتیژي او د ملي قضا پروګرام د ۲۰۰۸ کال په مارچ کې جوړ شول (د افغانستان د بیارغونې د اماناتو صندوق په چوکاټ کې .)
- لویې څارنوالۍ او د کورنیو چارو وزارت یو ګډ کمیسیون جوړ کړ چې د کشف او جرمونو د پلټنې په برخه کې د پولیسو او څارنوالانو ترمنځ د همکاریو لاربسود طرحه کړي.
- په افغانستان کې د ثبت شویو مدافعو وکیلانو شمېره په ۲۰۰۷ کال کې له ۲۰۰ نه درې برابره ته لوړه شوې. دغه شمېره په ۲۰۰۸ کال کې له ۶۰۰ واوښته چې ۱۳۰ یې یوازې مېرمنې دي.
- یوناما خپلو ټولوسیمه ییزو دفترونو ته له قضایي سکتور نه د نړیوال ملاتړ د همغږۍ لپاره د قانون د پلي کولو کار کوونکي ولېږل.
- حکومت د ترهګرۍ، پوهني او انساني قاچاق او له فساد سره د مبارزې د څارنې یوې ادارې د جوړولو په اړه قوانین نافذ کړل.

**د پرمختګ په وړاندې خنډونه :**

- د سرچینو اوړدمهاله نشتوالی؛
- د بنسټیزو جوړښتونو کموالی او د روزل شویو، پوهو، باتجربې او وړو قاضیانو او څارنوالانو کموالی.
- نا کافي قانوني زېربناوې؛
- د معاشونو او رتبو د اصلاحاتو تطبیق ډېر ورو و او د وړو کارکوونکو په کار ګومارلو او ځای پرځای کولو سره یې توپیر موندلی دی؛
- د چارواکو لخوا فساد او وېره عامه پاتې ده؛
- د محاکمو کارکوونکي له اغېزو او ګواښونو زیانمنېدونکي دي. دوی د خپل شخصي امنیت د ساتلو لپاره پوره امکانات نه لري.

(منبع: د ملګرو ملتو امنیت شورا ته د سرمنشي ریپوټ، سپتمبر ۲۰۰۸)

[۱۲] د افغانستان د بیا رغاونې امانت صندق د ګڼو بسپنه ورکوونکو د اماناتو صندق دی چې د نړیوال بانک له خوا اداره کېږي او څه باندې ۳۰ بسپنه ورکوونکي لري او په ۲۰۰۲

## د اروپايي کميسيون د هڅو لنډ انځور:

- له ۲۰۰۲کال نه د عامه سکتور د ۲۲۰۰۰۰ کار کوونکو له معاشونو او روزنې سره مرسته
- د حکومت کولو په اړه مسايل د اروپايي کميسيون د هيوادنی ستراتيژی په سند او اړوندو اهدافو کې دېره جوته ده.
- په ۲۰۰۸ کال کې ۲۰ ميليونه يورو د عدالت د پياوړتيا په لاره کې ولګول شوې. ( د مهارتونو لوړول، د عامه قانوني مرستو پياوړتيا او د ځايي ستونزو د حل وړتيا او د زندانونو د يونيفورم لرونکوکار کوونکو د معاشونو په برخه کې مرسته).
- اروپايي کميسيون د امريکا په مرسته د ۲۱۷،۵ ميليونه يورو په ورکولو په افغانستان کې د نظم او قانون د اماناتو د صندوق تر ټولو لوی مرسته کوونکی دی، دا پوليسو ته توان ورکوي چې په ټول هيواد کې عمليات وکړای شي.
- اروپايي کميسيون د افغانستان دولايتي حکومتداری يو له سترو مرسته کوونکو څخه دی. دغه پروګرام د يو ان ډي پي له لاري تطبيقيږي او د بنسټيزو وړتياو په ټينګښت ټينګار کوي. دا له آی ډي ال جي سره په نژدې همکاری په نوې سيمه ييزې حکومتي پاليسی کار کوي.
- د لس ميليونه يورو په ارزښت د ولايتي بيارغونې د ډلو په واسطه د عملي شويو پروګرامونو له لارې د ولايتي حکومتداری ملاتړ. ددغو پروګرامونو موخه د ولايتونو او ولسواليو د ادارو او د قانون د عملي کېدو د بنسټونو پياوړتيا ده،چې په هغو کې پوليس، قضا او ولايتي شوراګانې شامليږي.
- د يو ان ډي پي لخوا د اې جې ډي ال د پروژې د فعاليتونو ملاتړ. چې په کې د پوهاوي د لوړولو کمپاين، د ولسواليو د عدلي مراکزو پياوړي کول او د قضايي کار کوونکو روزنه.( شپږ ميليونه يورو.)
- د نوي عدالت يو پروګرام چې په ۲۰ ميليونه يورو د اروپايي ټولنې لخوا په ۲۰۰۸ کال کې تصويب شو او په ۲۰۰۹ کال کې به پلی شي. دغه پروګرام کې به د زندانونو د يونيفورم لرونکو کارکوونکو مکافات، د اې جې ډي اې په اړه د يو ان ډي پي د پروژې ملاتړ او د ان جې پي عملي کول شامل وي.

اروپايي کميسيون د افغانستان په پراختيايي او بشري برخو کې د يوه ستر بسپنه ورکوونکي په توګه په دغه هيواد کې د ۲۰۰۲ او ۲۰۰۸ کلو ترمنځ ۱،۵۹ ميليارده ډالره پانګونه کړې ده. په افغانستان کې د اروپايي کميسيون بوختيا دريو مرکزي ( د کليو پراختيا، حکومتداري او روغتيا) او دريو غير مرکزي( ټولنيز مصئونيت، ماين پاکي او سيمه ييزه همکاري) برخو ته ځانګړې شوې ده.

## ټاکنې

د يوهٔ کارنده دولت له لومړنيو ازموينو نه يو هم د آزادو او مناسبو ټاکنو ترسره کول دي. دغه شان لومړنی ټاکنې د طالبانو له ماتې وروسته په ۲۰۰۴ کال کې د ولسمشری او په ۲۰۰۵ کال کې د پارلمان او ولايتي شوراګانو لپاره وشوې. په ولسمشری ټاکنو کې د شرايطو لرونکو ۷۵ په سلو کې کسانو رايې ورکړې او په ۲۰۰۵ کال کې د پارلماني او ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې ۵۱ په سلو کې کسانو برخه واخيسته. د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کال ټاکنې د بن له پريکړې سره سمې د ملګرو ملتونو او افغان حکومت په ګډه همکاری وشوې. د ۲۰۰۹ کال ولسمشريزې ټاکنې په افغانستان کې د طالبانو له ماتې را پدېخوا لومړنی ټاکنې دي چې يوازې د افغان چارواکو لخوا تر سره کيږي. دغه ټاکنې به په افغانستان کې د اوږدمهاله سولې په لاره کې يو مهم پړاو وي.



په فراه کې د رايه ورکوونکود ثبتولو د مرکز مخې راټول شوي خلک، د ۲۰۰۹ کال د جنوري ۸. د فراه ولايت د ښځينه او نارينه رايه ورکوونکو د ثبت په مرکزونو د ورځې له ۳۰۰ تر ۴۰۰ کسانو د رايه ورکولو لپاره خپل نومونه ليکل.



يو تن افغان چې د ۲۰۰۹ په جنوري کې
په فراه کې ولايت کې د رای ورکولو
لپاره خپل نوم ثبتوي

**زه اروزگان، کندهار، او هلمند ولايت ته ولاړم. قومي او مذهبي مشرانو د نوم ليکنې په بهير مهمه ونډه لرله. په خاص اروزگان خلک تر واورې لاندې د نوم ليکنې لپاره ليکه ولاړ و او د هلمند ولايت په موسى کلا ولسوالى کې ګڼ شمېر خلک نوم ليکنې ته راغلي و.**

ذکريا بارکزى د ټاکنو کميسيون د دارلانشا مرستيال

## د ۲۰۰۹ کال ټاکنې

د ۲۰۰۹ کال ولسمشريزې او د ولايتي شوراګانو ټاکنې د افغانستان د ډموکرانيک بهير يو مهم پړاو دى. افغان حکومت او د هغه امنيتي ځواکونه به د هغو هڅو مشري کوي چې د مصئونه او امنو ټاکنو په اړه د افغانستان خلك ډاډه کړي. آيساف به د ټاکنو په ټول بهير کې د افغان ملي ځواکونو ملاتړ کوي.

د ټاکنو لپاره شرايط د نورو ترڅنګ د رای ورکوونکو د بريالى نوم ليکنې په ترسره کېدو سره چې د افغانستان د ټاکنو د خپلواك کميسيون لخوا وشو، برابر شوي دي. د ټاکنو خپلواك کميسيون له څلور اعشاريه څلور ميليونو ډېر نوي رای ورکوونکي ثبت کړي دي. د نويو ثبت شويو ۱،۷ ميليونه ښځې او ۱۴۳،۳۲۰ کوچيان دي. په ټول هيواد کې د ۳۹۸ ولسواليو له ډلې يوازې لسو هغو د امنيتي ستونزو له امله د نوم ليکنې په پروسه کې برخه وانخيسته.

د رای ورکوونکو د نوم ليکنې د بهير امنيت په عمومي ډول د افغان ملي پوليسو لخوا چې د افغان ملي پوځ مرسته هم ورسره وه نيول شوى و. آيساف په دې اړه يوازې لوژستيکي رول تر سره کړ.

**لومړى پړاو( د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر ۶ -- نوامبر ۴):** ۱۲۹۵۳۴۷ نوي راجستر شوي رای ورکوونکي. (بدخشان، کنړ، جوزجان، نورستان، وردک، غور، باميان، دای کندي، سرپل، لوگر، کاپيسا، پروان، تخار)

**دوهم پړاو( د ۲۰۰۸ کال د نومبر ۵ -- ډسمبر ۴):** ۱۶۵۰۴۳۸ نوي راجستر شوي رای ورکوونکي. (بلخ، سمنگان، جوزجان، فارياب، کابل، هرات، بادغيس، کندز)

**دريم پړاو( د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر ۱۲-- د ۲۰۰۹ کال د جنوري ۱۲):** ۹۲۴۰۲۳ نوي راجستر شوي رای ورکوونکي. (ننگرهار، لغمان، پکتيا، خوست، پکتيکا، زابل، فراه)

**څلورم پړاو( د ۲۰۰۹ کال د جنوري ۲۰ -- د فبروري ۱۸):** ۴۹۵۴۸۴ نوي راجستر شوي رای ورکوونکي. (کندهار، اروزگان، نيمروز، هلمند)

د ټاکنو خپلواك کميسيون د ټاکنو لپاره خپلو تياريو ته دوام ورکوي. په دې کې د عامه پوهاوي يو کمپاين او د کميسيون نورې چارې چې د کمپاين د لګښتونو په اړه يوې طرحه او د ټاکنو د لنډمهاله کار کوونکو په کار ګومارل او داسې نورې چارې هم راځي.

## ولايتي او سيمه ييزه کچه

په سيمه ييزه کچه د اغېزناکي حکومتدارۍ جوړول په دولتی کچه د بنسټونو پراختيا بشپړوي. افغانستان لا هم تر ډېره پورې يوه کليواله ټولنه ده. د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکه اداره چې مشري يې جيلاني پوپل کوي د ولسمشر کرزي لخوا د مرکزي حکومت او ځايي ادارو ترمنځ د اړيکو د ټينګښت په موخه جوړه شوه. دغه اداره چې په ۲۰۰۷ کال کې جوړه شوه مخامخ ولسمشر کرزي ته رپوټ ورکوي او پر واليانو، ولسوالانو او ښاروالانو د څارنې مسئوليت پر غاړه لري. د دغې ادارې هدف په ولايتي کچه د بنسټونو پياوړي کول، رونوالی او حساب ورکونه ده.په دې اړه ځانګړې پاملرنه هغو ولايتونو ته کيږي چې هلته امنيتي حالت د ډاډ وړ نه وي او ځايي حکومت هم ډېره وده نه وي کړې. د وزيرانو شورا لخوا د سيمه ييزو ارګانونو د پنځه کلنې ستراتيژۍ له تصويبېدو وروسته حکومت د سيمه ييزه ادارو د دندو روښانه کول پيل کړل چې اغيزمنتيا يې ډېره کړې ده .

په ۲۰۰۸ کال کې د سيمه ييزو ارګانونو ادارې د افغانستان د ټولنيزې پراختيا د ځانګړي پروګرام عملي کېدل پيل کړل. دغه پروګرام يو افغاني نوښت دی، چې په پراخه کچه يې د نړيوالې ټولنې، آيساف، يوناما او اړوندو نا حکومتي موسسو لخوا يې ملاتړ وشو. دا د په کار اچول شويو هڅو يو پراخ تصوير او په هيواد کې پر پېژندل شويو او منل شويو دوديزو کړنو ولاړ يو پروګرام دی. دغه پروګرام يو امنيتي اړخ هم لري ځکه د ټولنيزې همغږۍ او پيوستون له لارې له ياغيانو څخه د ولس د ساتنې په هڅو کې د فغان ملي امنيتي ځواکونو او ايساف ملاتړ کوي.

د افغانستان د ټولنيزې پراختيا ځانګړي پروګرام په ميدان وردګو کې په ازمايښتي ډول پلی شو. خو د سيمه ييزه ارګانونو خپلواکه اداره دا مني چې هر ولايت ، ولسوالۍ او سيمه خپله ځانګړتيا لري او د پروګرام د تطبيق لپاره به اړتيا وي چې په هره سيمه کې له شته ننګونو او فرصتونو سره سمون ورکړل شي.



د ولايتي ادراو چارواکي، سيمه ييز مشران، د ښوونځيو چارواکي او د ولايتي بيارغوني ډلې کارکوونکي د ۲۰۰۸ د جنوري پر ۱۱ د ننګرهار ولايت په بهسود ولايت کې د نجونو د يوۀ ښوونځی د پرانستلو په مراسمو کې.

[۱۳] د ناټو د لوړپوړی ملکي استازي دفتر.

## د افغانستان ټولنیز پراختیايي پروګرام

**د افغانستان ټولنیز پراختیايي پروګرام په هیواد کي د سولي، ښي اداري او پراختیا په اړه د یوه هر اړخیز او کوټلي چلند یو عملي مثال دی. د همدغه پروګرام له لاري حکومت د دي جوګه شو چي د امنیت، اداري او پراختیا په برخه کي د خلکو ونډه او مشارکت زیات کړي. دغه پروګرام د افغانستان پر اوسنیو جوړښتونو ولاړ دی چي حکومت وکولي شي له دغي لاري د حکومتي چارو،اصلاحاتو د راوستو او دودیزو جوړښتونو د سموني د بهیر د څار لپاره سیمه ایزي ټولني په پښو ودروي.**
**دغه راز حکومت د افغانانو له لوري د امنیت ساتني، حکومت کولو او پراختیايي چارو مخ ته بیولو لپاره ،او د خلکو د غږ اوریدو لپاره په وګړنیزه کچه ډیموکراسی ته وده ورکوي اوپلي کوي یي.**

دمیدان وردګ والي محمد حلیم فدایي ۲۰۰۹ فبروری

### موخي

- د ثبات او پرمختګ لپاره د ولسوالیو په کچه د حکومتي لاسرسي ښه کول؛
- د ولایتي چارو په اړه د ریپوټونو چمتو کول چي پکي عمومي معلومات، حکومت کووني، امنیت، بیا رغوني او د پرمختګ بهیر ځای شوي وي؛
- د پراخو مشورو له لاري د حکومت او ټولني په اړه په ولایت کي د جګړورو حکومتي چارواکو،سیاستوالو او ټولنیزو څیرو خبرول؛
- د دودیزو لارو چار د بیرته را ژوندي کولو له لاري د خلکو او حکومت ترمنځ باور او اعتماد پیدا کول او پیاوړي کول،د مثال په توګه د موقتو محلي شوراګانو د جوړولو له لارې چي د دیرشو او پنځوسو ترمنځ د قومي سپینږیرو،کلیوالو مشرانو، دیني عالمانو،پیژندل شوو څیرو او سیاستوالو څخه جوړي شوي وي ، د ټولنو ترمنځ د شخړو هوارول؛
- د سملاسي او اوږدمهالو اړتیاوو و د پوره کولو په موخه د ټولني دغوښتنو پراساس د تصمیم نیوني د پروسي پیاوړي کول چي حکومت او نورو مرسته کوونکو ته ښه چاپیریال برابر شي او په ټولیز ډول د ټولني د شکایتونو او بیرنیو حالاتو سره د مبارزي په برخه کي د حکومتي او ناحکومتي ادارو د کاري معیار تضمین وشي؛
- د کار د اغیزمنتیا د زیاتوالي په موخه په ولسوالیو کي د ټولو پروګرامونو یو ډول عملي کول.[۱۴]

### په میدان وردګ ولایت کی پرمختګ [۱۵]

- د ولایتي انځور چمتو کول- د امنیت، ښه حکومت کوولو او د پرمختیايي لومړیتوبونو په برخه کي د ولایت په کچه یو هر اړخیزسند؛
- له هغو وړاندیزونو څخه چي ، په ولایتي انځور، ولسوالانو، والي ،د ملي امنیت او نا حکومتي ادارو له خوا شوي د ولایتي شورا بالقوه غړي وپیژندل شول؛
- د تصمیم نیوني د پروسی او د ټولو خواوو د موافقي په اساس د ولسوالی اته شوراګاني جوړي شوي.
- دوالي،ولایتي شورا،ولسوالیو د شورا او ملي شورا د غړو په ګډون د رهبری او مشرتابه یو پیاوړی او اغیزناک ټیم جوړ شو.
- د ولسوالیو د شوراګانو په پرمختګ سره د ټولنواستازي ډاډه شوي چي په کارونو کي فعاله ونډه واخلي او خلک هم غواړي خپل نظرونه او اندیښني څرګندي کړي؛
- د ټولنیزو شوراګانو ناستو د حکومتي کارونو په اړه د خلکو او ټولني د نا خوښی د له منځه وړلو لپاره د خبرو اترو ښه فرصتونه برابر کړل؛

[۱۴] د سیمه ییزه ارګانونو خپلواکه اداره IDLG


[۱۵] د ناټو لوړپوړي ملکي استازي دفتر( ASOP اخیستل شوي درسونه) او خبریالانو ته د والي فدایي څرګندوني-ډسمبر ۲۰۰۸


د افغانستان د ترون او ملي پراختیایي ستراتیژۍ د عملي کولو چاره ورو او خندمنه ده. کتونکي د یوې ښېلگې په توگه هغو بې شمېره نړیوالو ټولنو، بسپنه ورکوونکو او ټولنو ته گوته نیسي چې د افغانستان ځوان حکومت سره مرسته کوي چې تجربه او وړتیا نه لري. خو مهم نړیوال برخه وال د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژي د عملي کولو یوهّ میکانیزم او د پلان جوړلو او د مهم شریکانو تر منځ د همغږۍ یوهّ گډ چوکاټ په توگه یو نوی کوټلی چلند غوره کوي. د همدی بهیر له لارې مهم لوبغاړي په ټولیز ډول په خطرناکه ولسوالیو کې د امنیت د ټینگولو،حکومت کوونې او موثر پرمختگ لپاره خپل پلانونه او لومړیتوبونه برابر کړل.
د کوټلي چلند له لارې د پلانېدونکو او پلي کېدونکو پروگرامونو بېلگې د پر ولسوالۍ ورټول پرمختیایي پروگرام او ډیر ژر د قضایي اصلاحاتو پروگرام دی.

د ملگرو ملتونو د لاسرسی وړ سیمو نقشی له مخې د افغانستان ۳۹۸ ولسوالۍ د ثبات له اړخه په دریو برخو کې ویشل کیږي: با امنه ولسوالۍ( په دا ډول ولسوالیو کې اساسي هڅه پرمختگ دی)، ناکراره ولسوالۍ( په دغو ولسوالیو کې اساسي هڅه د حکومتي واک ټینگول او غزول دي )؛ نا امنه ولسوالۍ چې ( په دوی کې اساسي هڅه د امنیت ټینگول دي) .د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژۍ دوه نورې څانگې په دغوسیمو کې د یادوو شوو کارونو د ترسره کولو هڅې کوي. دغه هڅه به بلاخره ټول افغانستان تر پوښښ لاندی راولي. په لومړي پړاوو کې ډیر تمرکز پر هغو ٤٩ ناکراره ولسوالیو کیږي چې د سیمه ییزه ارگانونو خپلواکې ادارې او یوناما له لورې پرې توافق شوی دی. لس ولسوالۍ اوس ټاکل شوي چې د نوي چلند له مخې پکې کار وشي.

**د ملگرو ملتونو د لاسرسي وړ سیمو نقشه**

**امنیت، حکومت او پرمختگ د یو بل بشپړونکي دي**






## د تګاب ولسوالۍ د ثبات پلان

د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ په شلمه نیټه یوناما،ایساف CSTC-A او افغان حکومتي ادارو د ولسوالیو د ثبات یو ګډ پلان چمتو کړ چې موخه یې په ولسوالیو کې کار کول دي. د دغو ولسوالیو د ټولنیزو،اقتصادي،امنیتي او ادارې په اړه بشپړ معلومات چمتو کیږي چې د تګاب ولسوالۍ په اړه معلومات وار له مخې بشپړ شوي ول.

د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په تاریخي ډول په دوو برخو شمال او جنوب ویشل شوې ده. جنوبي برخه یې بیا په خپل منځ کې ویشل شوې او له ډیره وخت داخلي لانجې لري.

د تګاب ولسوالۍ د ثبات پلان د یوناما د مرکزي سیمه ایز دفتر له لورې عملي کیږي چې د سولې یوې جرګې جوړول هم پکې راځي. جرګې د افغان ټولنیزې پراختیا پروګرام پیل کړ او د سیمه ایزې پخلاینې او د ولسوالۍ د یوې متوازنې شورا تاسیس ته یې لاره هواره کړه. دغه شورا به اوسنۍ څلور نورې شوراګانې سره یو ځای کړي او بیا به د خبرو اترو او پخلاینې د یوې مرجع په توګه ترې کار واخیستل شي.

دغه نوښت تراوسه په خپل لومړني پړاو کې بریالی دی ( سلامشورې، جوړجاړی، خبرې اترې)،او " لویې شورا" پر مشرتابه اختلاف د نوبتي مشرتابه یوۀ جوړښت په رامنځته کولو هوار شو. (منبع: یوناما)



شوراګانې د مشرانو تر منځ د مشورو ځای دی او په افغان ټولنه کې مهمه ونډه لري. شورا د یوې استازې دموکراسۍ د تطبیق بنسټ ده.

## د نشه يي توکو مخنيوي

**پرمختګ يوازې د کوکنارو د کروندو کمولو پورې تړلی نه دی، بلکې د امنيت په ښه کولو ، اعتبار،اقتصادي ودې او ښې اداري پورې اړه لري. موږ باید د لنډ مهاله جګړې د ګټلو پر ځاي د اوږدمهاله مبارزې پر ګټلو تمرکز وکړو.**

د ملګرو ملتونو د نشه يي توکو او جنايي جرمونو د څانګې مشر انتونيا ماريا کوستا،
٢٠٠٩ کال د جنورۍ مياشت
د افغانستان د اپيمو ژمنی ارزونه

د ترهګرۍ او نشه يي توکو د سوداګرۍ ترمنځ ښکاره اړيکه شته. د اټکل له مخې هر کال ترهګر له سلو تر دوه سوو میلونه ډالره د نشه يي توکو د قاچاقو او سوداګرۍ له لارې ترلاسه کوي. عملي تجربې ښيي چې د اپيمو توليد او د ترهګرو بريدونه اوتاوتريخوالی له يو بل سره مخامخ جغرافيه يی اړيکي لري،او نشه يي توکي د دواړو، ترهګرو او تنظيم شوو جرمونو لپاره يوه پراخه عايداتي سرچينه ده. د نشه يي توکو کاروبار فساد ته لمن وهي او قانون کمزوري کوي،دغه راز اوږد مهاله اقتصادي ودې هيلې له ګواښ سره مخامخوي او د ولس پر روغتيا هم ناوړه اغيز شيندي، ځکه همدا اوس په نشو د خلکو روږديدنه د افغان حکومت لپاره په يوې پراخېدونکې ستونزې بدله شوې ده .
له دغې ستونزې سره د مقابلې لپاره د افغانستان حکومت چې بيلا بيلې نړيوالي ټولنې( بريتانيا د اتو سترو صنعتي هېوادونو په مشرتابه، USAID، د ملګرو ملتو د نشه يی توکو او جرمونو ضد اداره او نور) يې په پراخ ډول مرسته کوي، د نشه يي توکو د مخنيوي ملي ستراتيژي چې اته ستنې لري او په ٢٠٠٣ کال کې تصويب او په ٢٠٠٦ کال نوی شو پلې کوي. په دې کې د حکومتي بنسټونو د ظرفيتونو لوړول،د قانون واکمنې او د قاچاق مخنيوی، د تقاضا راکمول،د جنايي جرمونو د مخنيوي په موخه عدلي اصلاحات ، عامه پوهاوی،سيمه ايزه همکارې،د معيشت بديل د پروګرامونو عملي کول او د کوکنارو د کروندو اړول راځي. دغه ټول کارونه د افغانستان د نشه يي توکوسره د مبارزې د وزارت په مشرۍ ترسره کېږي، د پروګرامونو عملي کوونکي د نشه يي توکو سره د مبارزې پوليس دي.

د دغه پلان يوه برخه د ښوو کړنو نو ښت هم دی چې د افغان حکومت له لورې پيل شوی او په ترڅ کې يي د کوکنارو له کروندو څخه پاک شوي ولايتونو ته مکافات ورکوي. دغه پروګرام په ٢٠٠٦ کال کې پيل شو.
د کوکنارو له کروندو څخه له پاکو شوو ولايتونو او هغو ولايتونو سره چې د کوکنارو له کروندو څخه د پاکيدو پر لور د پام وړ پرمختګ وښيي پراختيايي مرستې کېږي. له دغو ولايتونو سره په درې ډوله مرستې کيږي، د کوکنارو له کر څخه هر پاک شوي ولايت ته ( يوه ميلون امريکايي ډالره ورکول کيږي) ،د په سلو کې له لس پورته کر د هر لمنځه وړل شوي هکتار پر سر ( ١٠٠٠ ډالره) او ځانګړي مکافات ( ٥٠٠٠٠٠ ډالره). د دغه پروګرام له مخې په ٢٠٠٨ کال کې اتلسو ولايتونو ٢٨ ميلونه ډالره ترلاسه کړه،په دوی کې د ننګرهار ولايت هم شامل دی چې لس ميلونه ډالره ورکړل شول.

### د امريکا د پرمختايي اداري USAID د بديل معشيت پروګرام

د USAID د بديل پرمختيايي پروګرام موخه د کليو د اقتصادي پرمختيا او هڅوني له لارې د کوکنارو د کرلو پر ځای د يوبل ښه بديل رامنځ ته کول دي . هدف دا دی چې د سوداګريزې کرنې لپاره فرصتونه ډېر شي ، د توليد کچه لوړه شي او په کليو کې کارې زمينې پيدا او د کورنيو ګټه ښه شي.

تراوسه دغه انفرادي پروګرامونه د يو شمير تخنيکي (نوي بوټي ، نوي ډولونه او د حاصلاتو د توليد لارې چارې)، سازماني ( د تجارت سازمان او د کروندګرو اتحاديه) او بنيادي نوښتونو په ورانډې کولو کې بريالي روان دي. تر لاسه شوې نتيجې دا دي:

- په هغو سيمو کې چې کوکنار کرل کېږي د لوړې بيې لرونکې قانوني محصولاتو لکه انار او انګورو له برکته پايېدونکې او چټک اقتصادي پرمختګونه شوي دي. دغه پروګرامونه له کوکنارو څخه د پاکيدونکو ولايتونو د شمېر په زياتوالي کې مرسته کوي.
- د کرنې په توليدي برخه کې تر سلو زرو ډېر کسان روزل شوي.
- له درې اعشاريه دوه ميلونو نه زياتې ونې کېنول شوې دي.
- د USAID په مرسته په ٢٠٠٨ کال له څلور زره او دوه سوه څخه زيات ميتريک ټنه ميوې او سابه صادر شوي دي.
- له ديرشو زرو څخه ډېر کسان د خوړو د سمون له سيمه ييز کارخانو او يا عمده پلرونکو سره د قراردادیانو په توګه. منبع: USAID



۱۷.۷ ټنه بنګ داني
۱ ټن اپیم او ۱.۴ ټنه هیرویین
په فبروري ۲۰۰۹ کې په هلمند کې د نشه يي توکو ضد
ځواکونو له خوا وسوزول شول.

په ۲۰۰۸ کال کې یو شمېر مثبت پرمختګونه شوي دي.د ملګرو ملتو د نشه يي توکو او جرمد ضد اداري د ۲۰۰۹ کال د اپیمو د ژمني چټکې ارزوني له مخې په ۲۰۰۸ کال کې د کوکنارو په کر کې ۱۹٪ کموالی راغلی او په ۲۰۰۹ کال کې د نور کموالي اټکل هم شوی دی. د کوکنارو کرل تر ډېره په سویل پورې محدود پاتې شوي( لاندې جدول وګورئ). په سویل او سویل لویدیځ کې د ټول افغانستان ۹۸٪ کوکنار کرل شوي دي. خو په هلمند کې د نشه يي توکو سره د مبارزې ولایتي تګلاره ښيي چې څه ډول پیاوړې مشرتابه پر دغو ستونزو برلاسه کیدي شي.

ناټو او ایساف ځواکونه د نشه يي توکو د مخنیوي ملي ستراتیژۍ ملاتړ کوي او د افغانستان د نشه يي توکو ضد چاروکوسره د روزنې،معلوماتو د ورکولو او عملیاتو په برخه کې پراخې مرستې کوي. ناټو او ایساف دغه راز د ولایتي بیارغوني ډلې له لارې له افغان حکومت سره خلکو ته د نشه يي توکو د تګلارې په بیانولو او اعلانولو کې هم مرسته کوي. ایساف په ۲۰۰۸ کال کې د بوداپیسټ د دفاع وزیرانو د غونډې لاربښووني تعقیبوي، او د خپل پلان له مخې چمتو دی چې له افغان حکومت سره د نشه يي توکو د هغوولابراتوارونود ویجاړولو او نشه يي توکو د قاچاقبرو په وړاندې عملیاتو کې مرسته وکړي چې ترهګرو ته مواد او نوري مرستې برابروي.

| ولایتونه | د ولایتونو شمېر | په ۲۰۰۹ کې د کر څرنګوالی [۱۶] |
|---|---|---|
| بلخ،بامیان،غزني،جوزجان،خوست،کندز،لوګر،نورستان،پکتیکا،پکتیا،پنجشیر پروان،تخار او وردګ | ۱٤ | له کوکنارو څخه پاک |
| غور،ننګرهار،سمنګان او سرپل | ٤ | نامعلومه |
| بغلان او هرات | ۲ | ډېر کموالی |
| بدخشان،بادغیس،فاریاب،کابل،کاپیسا،کونړ او لغمان | ۷ | کموالی<br>(کم کرل شوي) |
| دایکندي،فراه،هلمند،کندهار،نیمروز،ارزګان او زابل | ۷ | کموالی<br>(خو اوس هم زیات کرل کېږي ) |

[۱۶] د افغانستان د اپیمو ژمنی چټکه ارزونه، UNODC ، جنوري ۲۰۰۹

**د نشه يي توکو له کاروبار څخه ترلاسه کيدونکي پيسي بغاوت پياوړی کوي. پر دغو پيسو ياغيانو ته وسلي پېرودل کيږی او د جنګيالو تنخوا يې ورکول کيږي، هغه وسلي او جنګيالي چې سرتېري او افغان ولسي خلک وژني . دا يو سرطان دی، بغاوت ته لمن وهي ، له فساد سره مرسته کوي، د قانوني سوداګري مخه نيسي او حکومت کمزوری کوي.**

جنرال جان بي کرادوک، د متحدو ځواکونو د اروپا سر قوماندان



افغان ملي امنيتي ځواکونه او د ايساف سرتېرو د ۲۰۰۹ کال په فبروري کې د ډېزل عمليات د هلمند ولايت په سنګين ولسوالۍ کې تر سره کړل. د هغو په ماموريت کې د ياغيانو د سوق او اداري ،او د لوژستيکي او د بم جوړولو تاسيساتو ګډوډول شامل و. (عکس: د بريتانيا د دفاع وزارت)



د ايساف يو بريتانوی سمندري پوځي نيول شوي نشه يي توکي ګوري چې د ۲۰۰۹ په فبروري کې په هلمند کې افغان امنيتي ځواکونو په مشرۍ ډېزل عملياتو په ترڅ کې ونيول شول. عکس: د بريتانيا د دفاع وزارت

## د ډيزل عمليات

د ډيزل عمليات د ۲۰۰۹ کال د فبروری د مياشتي د ٦ او ۱۱ نيټي ترمنځ د هلمند په سنګين ولسوالی کی د برتانوي ځواکونو په ملاتړ افغان سرتېرو ترسره کړل. د سنګين ولسوالی چې شاوخوا پنځوس زره نفوس لري له ډېر پخوا نه د ترهګرو د فعاليتونو د يو مرکز په توګه پيژندل کېده، دغلته نشه يي توکي هم توليديدل چې د طالبانو لپاره يې پراخ عايدات برابرول. د دغو عملياتو په نتيجه کې د ياغيانو سوق او اداري او د هغو لوژيستکي او د سرک غاړي بمونو د جوړولو تاسيسات ګډوډ کړل او لاندې پايلې يې لرلې:

- د ۱۲۹٥ کيلو ګرامه اومه اپيمو په ګډون د لويې اندازې نشه يي توکي له منځه وړل شول؛
- د نشه يي توکو ٤ مهمي کارخاني او د لابراتور وسايل ويجاړ شول؛
- د هيروينو په توليد کې يوه اندازه کاريدونکي کيماوي مواد ترلاسه شول. دغه له منځه وړل شوي مواد به د ٥۰ مليون پونډو په ارزښت هېروينو توليد ته بس وی؛
- د پام وړ اندازه وسلي او چاوديدونکي توکي ويجاړ شول چې په کې ٤٧ کلشينکوفونه، ماشينګنې، ۳ ار پي جی توغندي ويشتونکي له ګوليو سره شامل و؛
- يو موټر سايکل چې په ځانمرګي بريد کې کارولو ته چمتو شوی و.

منبع: د بريتانيا د دفاع وزارت


# بيا رغونه او پراختيا

## ستاسو د ښځو او سړيو د قربانيو او زموږ د خپلو خلکو د هوډ او قربانۍ له برکته د افغانستان د بيارغونې بهيرپه قاطع توګه پر مخ ځي.

د افغانستان ولسمشر حامد کرزی
د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کي ، ۲۰۰۸ د سپتمبر ۲۸


افغانستان اوس هم د نړۍ يو له تر ټولو ډېر ورسته پاتې هېوادو څخه دی . خو له ۲۰۰۲ کال راهيسي افغانستان په پرله پسي توګه پرمختګ کړی دی. په ۲۰۰۸ کال کې د وچکاليو له امله له رامنځته شوي کموالي سربېره، د افغانستان کورنی ناخالص توليد اټکل دی چې ۷.۵٪ وده وکړي. (لاندينی جدول وګورئ) . په ۲۰۰۷ مالي کال کې اټکل دی د سړي سر ناخالص کورنی توليد ۳۵۲ ډالرو ته لوړه شي او په ۲۰۰۸ مالي کال کې بيا ۴۵٦ ډالرو ته د لوړيدو وړاندوينه شوې وه.(جدول وګورئ) په ۲۰۰۱ مالي کال کې د هيواد په کچه د کورني ناخالص توليد ۴۹٪ د کرنې له اړخه وه او په ۲۰۰۷ مالي کال کې بيا دغه شمېره ۳۵.۵٪ وه. د سړي سر ګټې په لوړيدو، کرنه، د صنايعو او خدماتو په سکتور کې ثابتې ودې ته لار پرانيزي. اوس دغه برخې په کورنې ناخالص توليد کې په ترتيب سره ۲٦.٦٪ او ۳٤.٦٪ وده ښکاره کړې ده.

لومړی جدول: د افغانستان اسلامي جمهوريت
له ۲۰۰۲- ۲۰۰۷ د کورني ناخالص توليد وده




معلومات د IMF او افغان چارواکو له خوا برابر شوي

دويم جدول: د افغانستان اسلامي جمهوريت
له ۲۰۰۲- ۲۰۰۷ د سړي سر کورني ناخالص توليد وده





معلومات د IMF او افغان چارواکو له خوا برابر شوي

پانګونه ، په ځانګړي ډول کورنۍ پانګونه مخ په ډيريدو ده. په ۲۰۰۲ مالي کال کې ټولي کورنۍ پانګونې د کورني ناخالص توليد ۲۸.۸٪ جوړ کړي و، په ۲۰۰۷ مالي کال کې دغه شمېره ۳٦.۸٪ ته ورسېده.
په ۲۰۰۲ مالي کال کې د کورني ناخالص توليد ۱.۲٪ خصوصي پانګوني جوړوله او په ۲۰۰۷ کال بيا دغه شمېره ۷.۸٪ ته لوړه شوه. حکومت اوس د ۱۲.۷ مياشتو برابر راتلونکو وارداتو زېرمه لري چې هېواد د نه اټکل وړ کورنيو او بهرنيو ټکانونو په وړاندې دريځو ته ښه ځوګه کوي. افغانستان له خپلو ګاونډيو هېوادونو سره لا ډېره تجارتي راکړه ورکړه لري. له ۲۰۰۲ مالي کال څخه تر ۲۰۰۷ مالي کال پورې د افغانستان رسمي صادرات پنځه برابره لوړ شول (۴۸۲ ميلون ډالرو ته ورسېدل) ، په داسې حال کې چې په همدغه موده کې د افغانستان واردات څلور برابره ډېر شول (۷.۲۵۰ ميلون ډالره) . ( دريم جدول وګورئ). افغانستان ته له شپيتو تر اويا فيصده سوداګريز توکي له ګاونډي پاکستان له لارې لېږدول کېږي . د ۲۰۰٤ کال د ډسمبر پر ۱۳ افغانستان ته د سوداګرۍ نړيوالي ټولنې په عمومي شورا کې د څارونکي موقف ورکړل شو.

[17] انورالحق احدي ، د افغانستان اسلامي جمهوريت لپاره د نړيوال بانک د بلې ګورنر، واشنګټن ۲۰۰۸.
[18] ۲۰۰۷ مالي کال د ۲۰۰۷ له مارچ څخه د ۲۰۰۸ تر مارچ مياشتې پورې مودې سره سمون لري. ۲۰۰۶ مالي کال د ۲۰۰۶له مارچ څخه د ۲۰۰۷ تر مارچ مياشتې پورې مودې سره سمون لري. که بل ډول نه وي ويل شوي د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ مالي کلونو شمېرې اټکلي دي.
[19] د پيسو نړيوال صندق IMF او افغان چارواکي
[20] هماغه

[21] هماغه
[22] هماغه
[23] هماغه. په دغو شمېرو کې د اپيمو صادرات او هغه پيسې چې د امريکا له پوځ او د ايساف له ډېرو فعاليتونو سره تړاو لري شامل نه دي
[24] د ترانسپورت او سوداګرۍ تاسيساتو د فعالولو کميټه، افغانستان

دریم جدول: د افغانستان اسلامي جمهوریت
رسمی واردات او صادرات ـ مالی کال ۲۰۰۲ـ ۲۰۰۷




معلومات د *IMF* او افغان چارواکو له خوا برابر شوي

له دغو پراخو اقتصادي برياوو سره جوخت د عادي افغانانو ژوند هم په دوامداره توګه ښه شوی دی. د ۲ میلیونه نجونو په ګډون څه باندې ۷ میلیونه کوچینیان ښوونځیو ته ځي. له ۲۰۰۱ کال راهیسې ۳۵۰۰ ښوونځي جوړ شوي او په ۱۹ پوهنتونونو کې محصلین په لوړ معیار لوړې زده کړې کوي چې شمیره یې مخ پر زیاتیدو ده. نن ۸۵٪ افغانان اساسي روغتیایي اسانتیاوو ته لاس رسی لري.

که دا ټول د ۲۰۰۲ کال له ویرونکي حالت سره چې افغانستان ورسره مخامخ و،پرتله شي،ډېرې مهمي لاس ته راوړنې دي. خو د افغانستان د پاتې ستونزو د هوارولو او د دغه هېواد د اړتیاوو د پوره کولو لپاره پیاوړی نړیوال ملاتړ باید دوام ومومي. په دې لړ کې د ۲۰۰۸کال د جون په میاشت کې د افغانستان په اړه د پاریس په نړیوال کنفرانس کې له اتیاوو ډیرو بسپنه ورکوونکو له افغانستان سره د ۲۱ ملیارد ډالرو[۲۵] مرستي ژمنې وکړې . بسپنه ورکوونکود اپریل له میاشتي وروسته، د افغان حکومت له لورې د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژی له مخې ټاکل شوو لومړیتوبونو ځان برابر کړ.

د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي یو مهم سند دی چې له ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۳ کال پورې د لومړیتوبونو برخې او لوړ شاخصونه ټاکي . ستراتیژي په درېو برخو متمرکزه ده: امنیت،حکومت ، د قانون واکمني او بشري حقونه، او اقتصادي او ټولنېزه پرمختیا.

د پاریس د کنفرانس ګډونوالو موافقه وکړه چې کرنې، اوبو لګولو او انرژی برخو ته لومړیتوب ورکړي، او تر څنګ به یې د سړک جوړونې، ښوونې او روزنې او روغتیا په برخه کې هم خپلو مرستو ته دوام ورکړي. په دې لړ کې به د کرنیزو تولیداتو د ډېرولو او د کلیو د پراختیا په موخه هڅې وشي. د افغانستان د اقتصادي پرمختیا د هڅونې او د کارموندنې په نیت به په لویه کچه د بریښنا د تولید، لېږدونې او ویش په برخه کې پانګونه هم په دغو هڅو کې شامله ده.

پردې سربېره بسپنه ورکوونکو د افغانستان د بیارغونې لپاره امانت صندوق سره د درېو میلیارده ډالرو مرستو ژمنه وکړه. دغه صندوق په ۲۰۰۲ کال کې جوړ شوی او د نړیوال بانک له لورې اداره کېږي. د صندوق د جوړولو موخه له حکومت سره مرسته ده چې نړیوالې مرستې په سمه او اغیزناکه توګه ولګولای شي.



[۲۵] د افغانستان اسلامي جمهوریت، د مالیې وزارت



**د کندهار په پنجوايي ولسوالۍ کې افغان سابه پلرونکي. د کرنيزو توليداتو ډېرول د افغانستان په ملاتړ د پاريس په کنفرانس کې چې د ۲۰۰۸ د جون پر ۱۲ جوړ شوی و، د يوهٔ مهم لومړيتوب په توگه وپېژندل شو. (عکس: د کانادا دفاع وزارت)**

## له افغانستان سره د نړيوال ملاتړ چوکاټ

**د بن کنفرانس( ۲۰۰۱ ډسمبر):** افغانانو ملگرو ملتونو تر څار لاندې سره غونډ شول چې د خپل هېواد د اداري لپاره پر يوهٔ پلان پرېکړه وکړي. د افغانستان لنډمهالي اداره د شپږو مياشتو لپاره جوړه شوه چې ورپسې منځمهالي اداره رامنځته شوه او د ۲۰۰٤ کال د جنورۍ په مياشت کې د اساسي قانون تصويب او د همدغه کال په اکتوبر مياشت کی د ولسمشرۍ ټاکنو ته لار هواره کړه.

**د توکيو کنفرانس( د ۲۰۰۲ کال د جنورۍ ۲۱-۲۲):** جاپان،ملگرو ملتونو،اروپايي ټولنې او سعودي عربستان د وزيرانو په کچه د دغه کنفرانس کوربتوب وکړ چې پکې له افغانستان سره د مرستو په اړه خبرې اترې وشوې. بسپنه ورکوونکو له دغه هېواد سره د ٤.٥ ميلیارده ډالرو مرستې ژمنه وکړه.

**د ملگرو ملتونو د استازۍ دفتر(يوناما)** يوناما چې د ملگرو ملتونو د امنيت د شورا د ۱۴۰۱ پرېکړه ليک له مخې (۲۰۰۲ د مارچ ۲۸) رامنځته شو، د بن په کنفرانس کې د شوو ژمنو په عملي کولو کې مرستې وکړي.
د يوناما لاربښوونکي اصول د افغانستان مشرتابه پياوړي کول اود مشرتابه په ملاتړ د نړيوالې همغږۍ غښتلي کول دي.

**د برلين کنفرانس (۲۰۰٤ د اپريل ۱):** په دغه کنفرانس کې د ٦٥ سيمه ايزو او نړيوالو ټولنو استازو د افغانستان د بيارغونې د بهير د ملاتړ او له دغه بهير سره د مرستې په موخه راټول شوي ول. په کنفرانس کې له افغانستان سره د ۸.۲ ميلیارده ډالرو څخه د زياتو مرستو ژمنه وشوه.

**د لندن کنفرانس (۲۰۰٦ د فبروري ۱۱):** نړيوالې ټولنې او د افغانستان حکومت يو سياسي موافقه ليک، د افغانستان تړون، لاسليک کړ چې له ۲۰۰٦ تر۲۰۱۱ کاله پورې د دوې ترمنځ د همکارۍ اصول ټاکي. په تړون کې د فعاليتونو درې مهم او له يو بل څخه جلا ستنې مشخصې شوې دي: امنيت،حکومت ،د قانون واکمني او بشري حقونه، او اقتصادي او ټولنيزه پرمختيا. نړيوالې ټولنې د تړون د عملي کولو د چارو د څارنې لپاره پر يو لړ ټاکليو شاخصونو او مهال ويشونو روغه وکړه او ژمنه يې وکړه چې د مرستو اغيزمنتيا، شفافيت او حساب ورکولو کې به ښه والی راولي. بسپنه ورکونکو لس اعشاريه پنځه ميلیارده ډالره ژمنه وکړه.

**د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژي ( ۲۰۰۸ د اپريل ۲۱) :** د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژي د زريزې د پرمختيايي موخو پر بنسټ جوړ شوی پلان دی چې په افغانستان کې د لوړې د کمولو د ستراتيژۍ د سند کار هم ورکوي. د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژي د خپلو پرمختيايي لومړيتوبونو په ټاکلو کې د افغان حکومت مشرتوب مني او د ۲۰۰۸-۲۰۱۳ لپاره د گډ کار لار نقشه وړاندې کوي.

**د همغگۍ او څارنې مشترک بورد (۲۰۰۸ اپريل ۳۰):** د افغانستان د تړون د پلي کولو او د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژۍ د څارلو لپاره JCMB د همغگۍ او څارنې لومړنی ميکانيزم دی چې د نړيوالې ټولنې او افغان حکومت ترمنځ رامنځته شوی چې يوناما پکې مخکښ رول لري.

**د پاريس کنفرانس (۲۰۰۸ د جون ۱۲):** دا د افغانستان په اړه دريم لوی کنفرانس و چې د افغان حکومت له لورې د ملي پراختيا د ستراتيژۍ تر جوړولو او رسمي اعلان وروسته جوړ شو.په دغه کنفرانس کې له ۸۰ څخه ډېرو بسپنه ورکوونکو پرېکړه وکړه چې خپلې مرستې د کرنې،اوبو لگولو او انرژۍ پر برخو ورټولې کړي او له ۲۱ ميليارد ډالرو څخه د زياتو مرستو ژمنې يې وکړې. تمرکز کنند، آنان بيش از ۲۱ ميليارد دالر را متعهد شدند.



د ایساف یوه ښځینه سرتېرې د ۲۰۰۸ کال په نوامبر کې په کندهار ولایت کې له افغانانو ځخه د هغوی په سیمه کې د بیا رغاونې د اړتیاوو پوښتنه کوي. (عکس: دکانادا دفاع وزارت)

ناټو-ایساف هم د خپلو ۲٦ ولایتي بیارغونې ډلو له لارې د افغانستان د بیا رغونې او پرمختګ په برخه کې له نړیوالو سره پراخ ګډون لري. ولایتي بیارغونې ډلې چې ۳۰ هېوادو خپل کسان ورکړي د ۱٤ هیوادونو له لورې مخ ته وړل کېږي. ولایتي بیا رغونې ډلې د ناټو او ایساف د عملیاتو یوه مهمه برخه ده او د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژۍ د عملي کولو په برخه کې هم محوري رول لوبوي. پي ار ټي د ولسي او پوځي خلکو ځخه جوړه ده، پوځي برخه یې د ثبات او امنیتي سکتور د پیاوړتیا او وړتیا د لوړوالي په برخه کې کار کوي. او ملکي برخه یې بیا د حکومت ،سیاسي،اقتصادي،بشري او ټولنیزو چارو په برخه کې فعالیت کوي. تر دې دمه پي ار ټي د هېواد په کچه د بیلا بیلو پروژو له لارې له ٥٤٥ ملیونو ډالرو نه زیات لګولي دي.

لاند ې برخې د کرنې، د کلیو د پراختیا،انرژي ، ټرانسپورټ او یو شمېرو نورو برخو کې د پي ار ټي د فعالیتونو ښکارونديي کوي او د ځینو پروژ په اړه لنډ معلومات پکې وړاندې شوي دي.

## د افغانستان د بیارغونې امانت صندوق

دغه صندوق د افغانستان د بیارغونې د چارو د اغیزمنتیا د ډېرولو لپاره د حکومت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د ملګرتیا په موخه جوړ شوی دی. له ۳۰ ډیرو بسپنه ورکونکو د ۲۰۰۲ او د ۲۰۰۸ کال د ډیسمبر ترمنځ ۳ میلیارد ډالره د افغانستان د بیا رغونې امانت صندوق ته ورکړې چې ورسر دغه صندق د افغانستان له بودجې سره تر ټولو مرسته کوونکی شو. د امانت دغه صندوق د افغانستان د ملي لومړیتوبونو د ډېرې پروګرامونو ملا تړ کوي او د د اصلاحاتو د اجندا د ملاتړ په برخه کې ستراتیژیکه ونډه لري.

**د افغانستان د بیا رغونې امانت صندوق هدفونه :**

د ملي پراختیا له موخو سره د بیارغونې پروګراونو د سمون یوې مهمې وسیلې په توګه د ملي بودجې چمتو کول؛

- د بیا رغونې د مرستو په برخه کې د شفافیت او حساب ورکولو هڅول؛
- د حکومت پر محدودې وړتیا د پیټي سپکول او په همدې ترخ کې د وړتیاو د رامنتځته کولو لپاره هڅې؛
- د تمویل او د پالیسي پر سر خبرو اترو لپاره د د بسپنه ورکونکو تر منځ د همغږۍ ډېرول؛

د افغانستان د بیا رغونې امانت صندق اداري کمېټې له لورې اداره کېږي،چې نړیوال بانک ( مدیر)، اسلامي پرمختیایي بانک، د اسیا پرمختیایي بانک او ملګري ملتونه (یوناما او یوان ډي پي) پکې شامل دي. اداري کمېټه هر وخت په کابل کې جرګه کېږي او چې د صندق ورځنۍ چارې پرمخ بوځي. د افغانستان د مالیي وزارت د اداري کمېټې او د بسپنه ورکونکو په ناستو کې د څارونکي په توګه فعاله ونډه لري.

په ۲۰۰۷ مالي کال د افغانستان د بیا رغونې صندوق ته د مرستو کوونکو له لورې ٦۳٤ میلیون ډالره ورکړل شوې او په ۲۰۰۸ مالي کال کې بیا بسپنه ورکوونکو د ٦۹٥ میلیونه ډالرو مرستو ژمنه وکړه. صندق ته تر ټولو ډېر لوی مرسته ورکونکي بریتانیا، متحده ایالات او کاناډا دي. نور بسپنه ورکوونکي بیا د اروپایي ټولنې د پنځلسو هېوادونو په ګډون، استرلیا،هند،ترکیي او خلیج هېوادونه دي.
(منبع: نړیوال بانک)

## کرنه او د کلیو پراختیا

د کرنې سکتور د افغانستان د کورنې ناخالص تولید ۳۵.۵٪ جوړي[۲۶]. شاوخوا ۸۰٪ افغان وګړي په مستقیم او غیر مستقیم ډول په کرنې او مالدارۍ بوخت دي، چې ډیره برخه یې په کلیوالو سیمو کې دي. له همدې امله د کرنې پرمختګ ځګه اړین دی چې د اقتصادي پرمختګ ګټه ټول هېواد ته ورسیږي او ډېر افغانان ترې برخمن شي.

د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژۍ ستراتیژیک هدف دا دی چې دکرنې ډګرته خصوصي پانګونه ورماته کړي چې کرنه د ودې د یوې سرچینې او د ژوندانه د پراخو اسانتیاوو په توګه د یوه با ارزښته تجارتي سکتوربڼه خپله کړي. حکومت به د کرنې او کلیوالي پراختیا یو همغګی پروګرام پلی کړي چې موخه یې د بې وزلی کمول او بدیل معشیت برابرول دي.



یو افغان کروندګر چې کچالو کري (عکس: FAO/ګیولیو ناپولیتانو

### په هلمند کې د اقتصادي ودې نښې

د سیمې له کروندګرواو سوداګرو سره د مرستې له نوښتونو سره د نړیوال ملاتړ له برکته، د افغانستان د هلمند ولایت د خپل اقتصادي پرمختګ لومړی نښې ښرګندوي. دغه سویلي ولایت د هېواد په کچه تر ټولو ډېره ښېرازه سیمه ده، خو اقتصاد یې د اپیمو د کاروبار له لارې په ترلاسه کیدونکو ناقانونه پیسوولاړ دی. د نشه یي توکو پرضد د مبارزې د یوې برخې په توګه د بریتانیا د نړیوالي پرمختیا اداري DFIDله کروندګرو سره مرستې کوي چې نوربوټي وکري، دا کار به نه یوازې د کوکنارو کر کم کړي بلکې د دې ترځنګ به له کروندګرو سره د قانوني او پایېدونکي ګټي په ترلاسه کولو کې هم مرسته وکړي. دا کار همدارګز په سیمه کې د خوړو د اړتیاوو په پوره کولو کې د پام وړ ونډه ولري.

د DFID په ملاتړ د وړو پورونو د برابرولو پروګرام له کروندګرو سره سم لوري ته په پرمختګ کې مرسته کوي. دغې اداري تراوسه ۲۳۰ کسانو ته څه باندې لس زره پونډه ورکړي دي. دا د هغوو ۳۰ میلیونو پونډو لويې مرستې یوه برخه ده چې د هلمند د کرنې او کلیوالي پراختیا لپاره بیل شوي دي، چې ډېره برخه یې د پرمختیا په ډګر کې د افغان حکومت د ملي لومړیتوب پر پروګرام لګول شوي. د DFID نور فعالیتونه به د میوو،تخمونو او سابو سیمه ایز تولید او بازارموندنې، د چینباک خوندي اوبو او د کرنې اوبو ته د لاسرسي ډېرول، او د سړک جوړولو په برخه کې مرستې دي چې سیمه ایز کروندګر او پانګونکي وکولی شي خپل توکي مارکیټ ته ولیږدوي.

به هلمند کې د DFID فعالیتونه د هلمند ولایتي بیا روني ډلې او د امریکا د پراختیایي اداري USAID له کارونو سره نژدې همغږي لري. له دغو پروژو نه یې یوه د لښکرګاه د بسټ د هوایي ډګر بیا رغول دي چې اوس تولیدکوونکي کولي شي له دغې لارې خپل توکي د هیواد او سیمې نورو برخو ته ولیږدوي. ټاکل شوې چې په ۲۰۰۹ کال کې د USAID په مالي مرسته هوایي ډګر ته ورځیرمه د کرنې یو سوداګریز مارکیټ پرانیستل شي. دا هم د همدغو پروژو یوه برخه ده. (منبع: DFID )

[۲۶] IMF او افغان چاروکي

د کرنې او د کليو د پراختيا د پراخې سکتوري ستراتيژۍ موخه د اقتصادي ودې او پياوړتيا له لارې د بې وزلۍ او بې وزلۍ د کچې را ټيټول دي. دغه ستراتيژۍ د کليوالو خلکو د ژوند د ښه کولو په موخه يو لړ پروګرامونه ټاکي، چې د خوړوله پلوه د خونديتوب ډاډ ورکوي، لومړني خدمات برابريږي، د کار فرصتونه پراخيږي او په قانونی اقتصادي فعاليتونو کې د کورنيو د فعال ګډون له لارې د کورنيو ګټه ډېرږي.

د دغو موخو د ترلاسه کولو لپاره کليوالو سيمو ته د غزيدلو سړکونو او اوبو رسولو د سيستم بيا رغونه په لومړيتوبونو کې راځي. په دغه کار سره به د کرنې په توليد کې زياتوالی راشي، مارکيټ ته لاسرسی پيدا کيږي او په کليوالو سيمو کې د لوږي کچه راټيټيږي.



د کندهار شمال ته په ارغنداب ولسوالی کې د ډالې بند د يوې برخې انځور چې د ۲۰۰۸ د جولای پر ۱۱ له هوا څخه اخيستل شوی.

## کاناډا د ارغنداب د اوبو لګولو پروژ پر بيا رغونه کې پانګونه کوي

د ارغنداب په سېمه کې د ډالې بند او د اوبو لګولو سيستم چې د کندهار ولايت په زړه کې پروت دی د افغانستان د دوو لويو بندونوڅخه يو دی چې د کندهار ۸۰٪ خلکو ته اوبه ورکولای شي. دغه بند په ۱۹۵۰ کال کې جوړ شوی دی او اوس يې وړتيا ډېره کمه ده او د ذخېرې د اوبو بهير يې په سمه توګه نشي تنظيمېدلی. د ډاله بند د بيا جوړنې پروژې ته د ارغنداب د اوبو لګولو پروژې په سترګه کتل کيږي، کاناډا به په دغې پروژې باندې ۵۰ ميليونه ډالره پانګونه کوي چې اسانتياوې برابرې کړي، سړکونه يې جوړ کړي،جنراتورونه يې نوي کړي او کانالونه يې له سره ورغوي. په دغه پروژه کې د ارغنداب د اوبو د تنظيم سيمه ييزه اداره هم شامله ده چې له ځايي شريکانو سره په مشوره به په سيمه کې د اوبو د تنظيم مشري کوي. دغه پروژه به کروندګرو ته د توليد د زياتولو او د اوبو د خوندې ساتلو په اړه د روزنې زمېنه هم برابره کړه. د کاناډا د نړيوالې پراختيا اداره د کندهار د پي ارټي يا ولايتي بيا رغونې ډلې په چوکاټ کې د دغې پروژې د انجينرۍ، لوژستيک او امنيت ساتنې په برخه کې کار وکړ.

(منبع: د کاناډا د نړيوالې پراختيا اداره)



د اوبو لګلولو یوه ویاله چې د نړیوال بانک په مالي مرسته په کابل ولایت کې بیا رغول کېږي. (نړیوال بانک ۲۰۰۸)

## د اوبو لګولو د بیا رغونې بیړنۍ پروژه:

د اوبو لګولو د بیا رغونې بیړنۍ پروژې مالي لګښت د نړیوال بانک له لورې ورکول کېږي چې په انډول او عادلانه ډول ځمکو او فارمونو ته د اوبو رسولو په برخه کې مرسته وکړي. د افغانستان د اوبو په ټولو پنځو لویو حوزو کې د اوبو رسولو ملي نظام بیا رغونه به د کرنیزو تولیداتو او له ځمکو څخه د ګټې له ډېرولو، د خوړو له خوندیتوب، د ژوند له ښه کولو او د وچکالیو له امله د زیانونو له مخنیوي سره مرسته وکړي. د اساسي ورتیاوو د لوړولو په موخه تراوسه په کابل،جلال اباد،کندهار،بلخ،کندز او هرات کې شپږ سیمه ایز دفترونه پرانیستل شوي دي. د دې ترڅنګ ۷۱۰ فرعي پروژې چې لګښت یې ټولټال ۶۵.۹ میلیونه ډالره کېږي چمتو شوي چې له دغې ډلې څخه یې د ۵۶.۹ میلیونه ډالرو په ارزښت ۶۶۸ پروژې منظورې شوې دي. د ۴۷.۱۳ میلیونه ډالرو په ارزښت د ۶۶۵ پروژو قراردادونه روان دي او د ۳۳.۶۹ میلیونه ډالرو په ارزښت ۵۷۰ فرعي پروژې بشپړې شوي دي.

د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ له میاشتې د دغو پروژو له لارې ۱۰۰،۰۰۰ هکتاره نورې سیمې تر اوبو لاندې شوه او په رغول شوو سیمو کې یې د کرنې په تولید کې زیاتوالی راغی. پر دې سربېره د غزني ښار په جنوب کې د سلطان بند د ۵۰۰،۰۰۰ میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت په عاجل ډول ورغول شو. د ښکته کوکچې د ابولګلولو او برېښنا بند پروژه هم د امو سنېد په حوزه کې د کوکچې پر سیند بشپړه شوه. د هیواد په بیلا بیلو برخو کې د هایدولوژي ۱۷۴ ستیشنونو له ډلې څخه د ۶۴ د لګولو کار بشپړ شوی دی او د پاتې ستېشنونو د لګولو چارې هم روانې دي.
(منبع: نړیوال بانک)

## په کابل او بادغیس کې د کلیو د پراختیا د ښوونځیو جوړول

اسپانیا د کرنې په برخه کې د افغانستان د ستراتیژۍ د ملاتړ سروالي کوي. په دغه ستراتیژۍ کې یو په زړه پورې ورانديز په پلازمینه کابل او په بادغیس ولایت کې د کلیو د پراختیا ولایتي ښوونځیو جوړول دي.بادغیس ته چې د افغانستان یو له ډېرو خوارو ولایتونو څخه دی مادرید د ۱۵ مېلیونه یورو د مرستې ژمنه کړې ده.

پردې سربېره د اسپانیا پراختیایي اداره په بادغیس ولایت کې پر ابي ځمکو هم کار کوي: افغانانو ته د کرنې د نوي تخنیکونه د زده کوې، د مالدارۍ د ښه کولو لارې چارې ورښیي، د زعفرانو او پستې بیا کرل دودي او د کرنیزو ناروغیو پر ضد مبارزه کوي. د ۲۰۰۱ او ۲۰۰۸ کلونو ترمنځ د افغانستان د بیا رغونې، اقتصاد او ټولنیزې پراختیا په برخه کې د اسپانیا د حکومت ټولې مرستې ۲۲۵ میلیونه یورو ته رسیدلي.

.

د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې د ادارې د معلوماتو له مخې له ۲۰۰۴ کال راهیسې د اوبو لګولو سیستمونو چې ۵۶۷،۰۰۰ هکتاره ځمکې یې تر پوښښ لاندې راوستي رغول شوي دي. د بیلا بیلو پروګرامونو په لړ کې کلیو ته غزیدلي شاوخوا ۲۰،۰۰۰ کیلومتره سړکونه جوړ شوي او له سره رغول شوي دي چې له امله یې مارکیټ ته لاسرسی زیات شو،کاري زمینې پیدا شوی او ټولنیزو خدمتونه وړاندې شوي دي. له ۵۰۰،۰۰۰ نه زیاتو کورنیو(۳۶٪ کلي) د اوبو لګولو له کوچنیو پروژو نه ګټه اخیستې ده[۲۷] .

په ۲۰۰۷ کال کې د غلو تولید ۴.۶ میلیونه ټنه[۲۸] و چې د ۲۰۰۱ کال د تولید څه باندې دوه برابره کېږي،په ۲۰۰۱ کال کې د غلو تولید ۲.۰ میلیونه ټنه و[۲۹] . د کرنې د کوپراتیفونو شمېره په ۲۰۰۲ کال کې ۵۲ وه چې په ۲۰۰۷ کال ۱،۱۱۴ لوړه شوه. په ۲۰۰۲ کال کې په دې برخه کې د په کار بوختو کسانو شمېر ۷،۴۰۰ و چې په ۲۰۰۷ کال کې ۱۲۴،۶۰۰ لوړ شو[۳۰] .
نوي اود لوړ کیفیت لرونکي تخمونه چې ډېر یې خصوصي سکتور تولید کړي ول په افغان مارکیټونو کې وپیژندل شول او د ښه حاصل اود ناروغیو په وړاندې ښه مقاوت لاره.

[۲۷] د افغانستان ملي پراختیا ستراتیژي

[۲۸] د ټول کرنیز تولید ۹۰٪ غلې جوړوي

[۲۹] FAO

[۳۰] IMF او افغان چارواکي


## اف اې او د لبنیانو د سره یوځای شویو پروژو د پراختیا ملاتړ کوي

د پروژې موخه په افغانستان کې د لبنیانو د سره یو ځای شویو پروژو پرمختیا ده. د لبنیاتو څو اتحادیې ، لکه د کابل د لبنیاتو اتحادیه، د مزار د مالدارۍ د پراختیا اتحادیه او د کندز د لبنیاتو اتحادیه، سره تنظیم شوي، او د افغانستان له حکومت سره ثبت شوي دي. د پروسس تاسیسات لا له وړاندې اصلاح شوي چې ورسره د کابل، بلخ او کندز اتحادیو د لبنیاتو په ورځنۍ تولید کې په ترتیب سره د ۷۰۰۰ ، ۵۰۰۰ او ۲۰۰۰ لیترو ډېروالی راغی، او پاستورایزیشن او بسته بندی له یوه بشپړ سیستم څخه برخمنې شوې. په ۲۰۰۸ کال کې دغو درېو کارخانو ۲.۱ میلون لیتره تولید لاره په داسې حال کې چې په ۲۰۰۳ کال کې یې یوازې صفر عشاریه شپږ میلیون لیتره تولید کړي و.

مسلکي کارپوهان له اتحادیو سره د اداري چارو د ښه کولو او تجربو د زیاتوالي په موخه د هغوی د ظرفیتونود لوړولو په برخه کې مرستې کوي، دا په دې خاطر چې د لبنیانو کاروبار روان وساتلي شي. د پیاړتیا پراو لپاره یو ۱۵- میاشتنی غزول شوی وړاندیز( ۲۰۰۸ اکتوبر تر ۲۰۰۹ ډسمبر) د بسپنه ورکوونکو له خوا له ۱.۷ ملیون ډالرو نورو پیسو سره ومنل شو. اړوندو اتحادیو د کارو بار یو درې کلن پلان چمتو کړ. په کندز او مزار کې د پروسس او ساړه ساتلو تاسیسات او دغه راز په درې واړه کارخانو کې ژرندې په نوې کړل شي.

## انرژي او ټرانسپورټ

د پایدونکي اقتصادي پرمختک په وړاندې ننګونې د انرژۍ او ټرانسپورټ د فزیکي او بنسټیزو جوړښتونو له رغولو پرته نه شي لرې کیدی. د اوبو په برخه کې د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژۍ هدف دا دی چې د یوه اغیزناک او ښه سمبال شوي مارکیټ او خصوصي پانګونې له لارې اوبه اوانرژي په ښه ډول سمبال او زیرمه شي.
د بنسټیزو جوړښتونو عصري کول به د افغان اقتصاد د ظرفیت د لوړولو، د کاري زمینو د پیدا کولو،د عایداتو د زیاتولو او د پانګې د با ثباته بهیر په برخه کې ګټوررول ولوبوي. سربېره پر دې، موثر بنسټیز جوړښت له دولت جوړولو سره هم مرسته کوي او افغان وګړو لپاره د داړ وړ خدماتو ته د لاسرسي په ډېرولو د حکومت اعتبار پیاړوی کوي.



کابل ته د وارداتي برېښنا په رسېدو، یو سپین ږیری د خپل کور څراغ روښانه کوي.
(نړیوال بانک)


د افغانستان ملي پراختیا ستراتیژي هدف دا دی چې تر ۲۰۱۰ کاله په لویو ښاري سیمو کې ۶۵٪ کورنیو، ۹۰٪ غیري استوګنو او لږ تر لږه ۲۵٪ کورنیو ته په کلیوالو سیمو ته برېښنا برابره کړي. د برېښنا تولید په ۲۰۰۲ کال ۵۵۷ میګاواټ څخه په ۲۰۰۸ کال کې ۱،۵۶۶ میګا واټو ته لوړ شو . کابل اوس د برېښنا د انتقال له شمال ختیځ سیستم سره نښلول شوی او دوامداره او د داړ وړ برېښنا لري.

که څه هم د پلازمېنې ډېری برخې په هرو دوو ورځو کې څلورساعته برېښنا لري، ډېری سیمې یې څلوریشت ساعته برېښنا لري. په راتلونکي کې به د برېښنا د شبکې په پیاوړتیا او ډېرو برخوته د مزو په غزولو به ډېرې نورې کورنۍ او نورې ودانۍ چې استوګنه یکې نه کیږي له برېښنا برخمنې شي.

پر دې سربېره د برېښنا د پیر هغه تړون به چې د ازبکستان او افغانستان ترمنځ لاسلیک شوی ، په شمال کې ډېر ښارګوټي د دې جوګه کړي چې له دغې برېښنا نه د خپل اقتصادي فعالیتونو په بیا رغولو کې کار واخلي.

USAID[۳۱]

## د برېښنا رسولو شمال ختيځ سيستم اوسنی حال




دا نقشه په مقياس برابره نه ده او نسبي موقعيت نه ښيي

د ۲۰۰۹ جنوری ۲۰ د ال ای سي او د آی سي اي د دارالانشا د معلوماتو پر بنسټ چمتو شوی

## د کجکي بند د افغانستان سویل ته برېښنا رسول

د کندهار ولایت دکجکي د برېښنا بند ته درېم توربین د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر کې ورسول شو. نوی توربین د پخوانۍ هغه د تولید توان ډېر کړی. دغه توربین به کجکي، لښکرګاه او کندهار ته د برېښنا رسولو په برخه کې د بند تولید له ۱۶،۵ میګاواټو نه ۵۱ میګاواټو ته چې د پخوانۍ کچې درې برابره کېږي لوړ کړي. په بند کې نور کارونه به د یو میلیون خلکوکورونو، کرنې او فابریکو ته چې د ملنې سیند په دره کې ژوند کوي اوبه تیاري کړي. په پایله کې به د خلکو د ژوند په خرنګوالي کې چې په دغې دره کې ژوند کوي د پام وړ پرمختګ رامنځته شي او اقتصاد به يې پراختيا ومومي. د برېښنا او اوبو مخ په ډېرېدونکي توګه رسول به کروند ګر په دې وتوانوي چې په لوړه کچه مېوې تولید کړي، روغتیايي مرکزونه به خپل خدمات پراخ کړي او ماشومان به د مطالعې لپاره د داړ ور برېښنا ولرلي. د کجکي بند په

هلمند کې د پراختیا د لاسته راوړو د څخه یو مهم عنصر او د حکومت د هر اړخیز اقتصادي او تولنیز پراختیایي پلان یوه مهمه برخه ده.

که څه هم دغه پروژې پیسې د امریکا د حکومت لخوا ورکړل شوي، د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت په دې برخه کې د پروژې د پلانونو د پراختیا او د برېښنا د په اړه د حکومت د ټول پراختیایي پروګرام د داړمنولو په برخه کې دخیل و.

د پروژې عملي کول د افغان امنیتي ځواکونو او آیساف سرتېرو لخوا د امنیت له ټینګولو او د ولایتي بیارغونې ډلې لخوا د توکو د همغږي کولو له چاره پرته شوني نه و.



د برېښنا رسېدو په ټول کابل کې د شپې څراغونه رڼا کړي دي.

## کابل، څراغونه لګېدلي دي

د برېښنا د بیارغوني بېړنۍ پروژې موخه د کابل ښاریانو ته د برېښنا د وېش د شبکې د بیارغونې او پراختیا له لارې د نورې او ډاډمنې برېښنا برابرول دي. په دې کې د نغلو د ۱۰۰ مېګاواټه برېښنا بیا رغول او د هغې اداره او تجارتي کول هم شامل دي چې موخه یې د برېښنا د ګټورتیا لپاره د برېښنا رسونې د خدماتو پراخول بلل کېدای شي. تر دې پروژې لاندې چې کومو کارونو ته پیاوړتیا ښنل شوې، موخه یې داده چې کابل له د برېښنا رسولو شمال ختیځ سیستم سره وتړل شي او له ازبکستان څخه راتلونکې برېښنا ورته ورسېږي. ددې ترڅنګ له نغلو بند نه د ۱۱۰ کیلو ولټه برېښنا د لېږدولو د مزو بیا رغونه اوس بشپړه شوې او د کابل خلکو ته ډېره او ډاډمنه برېښنا لېږدولای شي.

په دغې پروژې سره هغه کارونه بشپړېږي چې د د افغانستان د بیا رغاونې امانت صندق له خوا تمویلیږي او همدارنګه به کابل ته د ۷،۴ میلیونو ډالرو په ارزښت برېښنا رسول هم تکمیل شي. پروګرام د ۲۲ مېګاواټو برېښنا په توان سره د ماهیپر پروژې په بیارغولو کې مرسته کړې او ورسره تړلي ۱۱۰ کیلو ولټه د برېښنا لېږدولو مزي بشپړ کړي دي. ماهیپر په ژمي کې کابل ښارته د برېښنا رسولو مهم بند دی، داسې چې هغه سیند چې دغه بند چلوي له کوم بل لګښت څخه پرته یوازې په ژمي کې اوبه لري. د ماهیپر د یوه ماشین تولید کولای شي لږ تر لږه ۱۶۰۰۰ کورنیو ته په ژمي کې برېښنا ورکړي. دغه برېښنا د ګرانې ډیزلي هغې ځای نیسي.

ددې ترڅنګ د افغانستان د بیا رغونې امانتي صندق د کابل، ایبکو او مزارشریف د برېښنا د پروژې پیسې ورکړي دي. د افغانستان د برېښنا د پراختیا د سیستم پروژه به د هغې اضافي برېښنا د وېش کار اسانه کړي چې ازبکستان یې پر افغانستان پلوری. دغه برېښنا به هغو ولایتونو ته هم ورکړل شي چې نوي مزي ترې تېرېږي. دغه کار به ببرته خپلې پخوانۍ اقتصادي خوځښت ته د مزارشریف، ایبکو، پلخمري، جبل السراج، چاریکارو او ګلبهار د ببرته ګرځېدو لامل وګرځي.

## جرمني کابل ته د برېښنا رسولو مرسته کوي

د انرژۍ په سکتور کې د جرمني فعالیتونه د کابل شاوخوا کې د برېښنا د رسولو پراختیا او بیارغونه باندې تمرکز کوي. دغلته د هیواد ۳۹ په سلو کې د برېښنا پایې ولاړې دي او د برېښنا د ټول تولید ۶۵ په سلو کې همدلته ده.

پلازمېنې ته اساساً د اوبو درې بندونه (نغلو، ماهیپر او سروبي) او د ګازو یو توربین برېښنا وکوي . د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختیا وزارت د کابل شاوخوا ته د برېښنا د بندونو د بیا رغونې په موخه ۲۰،۵ میلیونه یورو ورکړي دي. سربېره پر دې برلین د ماهیپر د دوو توربینونو د بیارغونې لپاره څلور میلیونه یورو د افغانستان بیا رغاونې امانت صندوق ته ځانګړې کړې دي.

د ترانسپورت شبکه د پراختیا په حال کې ده. د ۲۰۰۸ کال له جون راهیسې ۱۳۱۵۰ کیلومټر سړکونه یا جوړ شوي یا بیارغول شوي دي[۳۲] . حلقوي سړك او ( له ۳۰۰۰ کیلومټرو ډېر) مهم نړیوال نښلوونکي سړکونه چې د هیواد لوی ښارونه یو له بل او افغانستان له ګاونډیو سره نښلوي تر ډېره جوړ شوي او پاخه شوي دي. د دغو پراختیاوو له برکته، اوس پر لارو د سفر وخت په منځنۍ کچه راټیټ شوی اواقتصادي چارې د غوړېدو په حال کې دي. د مالونو لېږدول را لېږدول په حیرانونکې توګه ډېر شوې او تمه کېږي چې په ۲۰۱۰ کال کې به پر هر کیلومتر سړک په منځنۍ توګه ۲۳،۷ میلیونه ټنه ولېږدول شي[۳۳] . دا مهال په افغانستان کې له ۶۰۷۰۰۰ ډېر موټر دي چې په ۲۰۰۲ کال کې له ۱۷۵۰۰۰ شمېرې سره ډېر توپیر لري[۳۴] . د دغو موټرو لویه برخه چې ۵۷۶۰۰۰ کېږي شخصي دي[۳۵] . د سړکونو ترانسپورت او د شخصي موټرو ډېرېدل د دې ښکاره شواهد دي چې د افغانستان د بیا رغونې پروسه ښه پرمخ روانه ده.

[۳۲] یوناما ۲۰۰۸

[۳۳] د آسیا پرمختیایي بانک، ۲۰۰۸

[۳۴] IMF او افغان چارواکي

[۳۵] IMF او افغان چارواکي


### له کابل څخه تر باميانو

ايتاليا د کابل- باميانو سړك له جوړېدو سره مرسته کوي. په دې پروژې کې به ۱۳۶ کيلومتره سړك بياورغول شي. دغه پروژه به د پلازمېنې کابل او مشهور ښار باميانو ترمنځ د منظمې سوداګرۍ او شخصي ترانسپورت بيا پيلېدو ته لار هواره کړي. سړك په غرونو او کندونو تيرېږي او هوارو سيمو ته لار کوي.

د پروژې ټول لګښت ۱۰۴ میلون یورو اټکل شوی دی، چې ټول د بلاعوض مرستې په توګه د ايتاليا حکومت لخوا ورکول کيږي.

د اتو کلونو په موده کې ايتاليا د افغانستان د بيارغوني لپاره د ۴۴۱ ميليونو ډالرو ورکولو ژمنه کړې ده. تر دې مهاله ددغو پيسو ۳۵۵ ميليونه ډالره افغانستان ته ورکړل شوي دي.

## حلقوي سړك او له ګاونډيو هيوادونو سره د افغانستان نښلېدونکي نړيوال سړکونه



## ناټو افغان زده کوونکو ته د انټرنټ اسانتیاوې برابروي

د وریښمو د لویې لارې په نامه د اروپا او آسیا د نښلوونکې سوداګریزې لارې له نومولو وروسته د ناټو د وریښمو د مجازی لارې پروژه د سټلایټ له لارې د مرکزي آسیا او قفقاز علمي مرکزونو ته د انټرنټ اسانتیاوې برابروي. له ۲۰۰۶ کال راپدېخوا دا په کابل پوهنتون کې هم عملي شوې او نورو ولایتونو ته به هم وغځول شي. د دغه پروګرام له لارې د ناټو دعامه پالیسۍ د سولې او امنیت علومو څانګه له افغان چارواکو سره د هغوی د پوهنیز سیستم په برخه کې مرسته کوي.

د کابل سیمه: په ۲۰۰۸ کال کې د سولې او امنیت علومو پروګرام دکابل پوهنتون ټول ۱۴ پوهنځي او د لوړو زده کړو وزارت په یوې شبکې سره وتړل او د ویډیو تیلې کنفرانس اسانتیایې رامنځته کړه. د وریښمو د معنوي لویې لارې پرمټ د کابل نورو پوهنیزو مرکزونو ته د انټرنټ برابرولو باندې کار روان دی چې په هغو کې د ملي پوځ اکاډمي او د رسنیو او مالوماتو مرکز هم شاملېږي.

د ولایتونو نښلول: د ۲۰۰۸ کال په مارچ کې د ناټو د مشورې او سوق او ادارې څانګې (NC۳A) ته دنده وسپارل شوه چې له کابله د بهر پوهنتونو لپاره د انټرنټ د اسانتیا د برابرولو د توان په اړه امکانات وڅېړي. د وریښمو د معنوي لارې د پراخې شوې پروژې د داوطلبۍ پړاو پیل شوي او د ۲۰۰۹ کال په پای کې به یې عملي کول پیل شي. د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت شپږ پوهنتونونه تر ټولو لومړی مستحق ګڼلي دي. هرات پوهنتون، په شبرغان کې د جوزجان پوهنتون، کندهار پوهنتون، په خوست کې د شیخ زاید پوهنتون، په مزار شریف کې د بلخ پوهنتون او په جلال آباد کې د ننګرهار پوهنتون.



د وریښمو معنوي لار په افغانستان کې اکادیمکې ټولنې ته عصري تکنالوژۍ ته لاسرسی برابروي.

د نورو معلوماتو لپاره په لاندې پتو اړیکي ټینګ کړئ:
د شمالي اتلانتيك تړون(ناټو)
د عامه ډیپلوماسی څانګه
د رسنیو برخه
د رسنیو د چارو مرکز(ام او سي)
تیلفون: ۰۰۳۲۲۷۰۷۱۰۱۰
برېښناليك: moc@hq.nato.int
وېب پاڼه: www.nato.int

نړیوال مرستندویه امنیتي ځواکونه(آیساف)
د عامه چارو اداره(پي اې او)
تیلفون: ۰۰۹۳۷۹۹۵۱۱۱۵۵
برېښناليك: pressoffice@hq.isaf.nato.int
وېب پاڼه: www.nato.int/isaf/index/html
په افغانستان کي د ملکي چارو لوړپوړی استازی
تیلفون: ۰۰۹۳۷۹۹۵۱۱۴۷۸

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د حکومت د رسنیو او مالوماتو مرکز(جي ام آی سي)
تیلفون: ۰۰۹۳۷۰۷۴۱۱۹۵۰
برېښناليك: dutyofficer@gmic.gov.af

په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستندویه ماموریت دفتر
تیلفون:
برېښناليك: spokeperson-unama@un.org
وېب پاڼه: www.unama-afg.org





NATO Public Diplomacy Division
1110 Brussels - Belgium
Website: www.nato.int
Email: distribution@hq.nato.int